د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د لوړو زده کړو وزارت

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه

علمي او محصلانو چارو معاونیت

# ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې پنځه کلن ستراتیژیک پلان

(۱۳۹۹-۱۴۰۳ هـ ل)

# URZU STRATEGIC PLAN

## 2020-2025

Urozgan Institute of Higher Education strives to assure:

Education

Profession

Leadership

Transparency

**March, 2020**


بسم الله الرحمن الرحيم

| د مطالبو لړلیک | | |
|---|---|---|
| شماره | عنوان | صفحه |
| ۱ | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د رئیس پیغام | ۱ |
| ۲ | ارزګان دلوړو زده کړو مؤسسې د ستراتیژیکي برنامې چوکاټ | ۳ |
| ۳ | سریزه | ۴ |
| ۴ | لیرلید | ۵ |
| ۵ | رسالت | ۵ |
| ٦ | ارزښتونه | ۵ |
| ۷ | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د راتلونکو پنځو کلنو (۱۳۹۹-۱۴۰۳ هـ ل) لپاره ستراتیژیک اهداف | ۵ |
| ۸ | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې لنډه پیژندنه | ۷ |
| ۹ | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د تأسیس څخه تر ۱۳۹۸ کال پورې د فارغ التحصیلانو احصآئیه | ۱۰ |
| ۱۰ | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې لپاره د SWOT تحلیل | ۱۴ |
| ۱۱ | د چاپیریال( خارجي او داخلي محیط )پېژندنه | ۱۴ |
| ۱۲ | د خارجي چاپېریال تحلیل او تجزیه | ۱۵ |
| ۱۳ | د داخلي چاپېریال تحلیل او تجزیه | ۱۹ |
| ۱۴ | د SWOT تجزیه او تحلیل | ۲۴ |
| ۱۵ | د لوړو زده کړو وزارت د ملي ستراتیژیک پلان اولیتونه | ۲۷ |
| ۱٦ | ښه حکومتولي | ۲۸ |
| ۱۷ | مالي استقلالیت تر لاسه کول | ۲۸ |
| ۱۸ | معلوماتي ټکنالوژي ته پراختیا ورکول | ۲۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۹ | د اداري فساد په وړاندې مبارزه | ۳۰ |
| ۲۰ | د جندر اړوند | ۳۱ |
| ۲۱ | د علمي-څېړنیزو پروګرامونو پراختیا | ۳۲ |
| ۲۲ | ظرفیت لوړونه | ۳۲ |
| ۲۳ | د کیفیت د لوړاوي اعتبار ترلاسه کول | ۳۷ |
| ۲۴ | علمي څېړونو او نوښتونوته وده اوعمومیت ورکول | ۳۸ |
| ۲۵ | لوړو زده کړو ته لاسرسی | ۳۹ |
| ۲۶ | د بنسټیزو تأسیساتو پراختیا | ۴۳ |
| ۲۷ | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د لنډ مهاله اهدافو تعین | ۵۰ |
| ۲۸ | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتیژي انتخاب | ۵۰ |
| ۲۹ | د راتلونکو پنځه کلنو لپاره د ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې عملیاتي او بودیجوي پلان | ٦۳ |
| ۳۰ | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتیژیو د اولیت تعینول | ۵٦ |
| ۳۱ | د ستراتیژی ارزونه | ٧٦ |

| د جدولونو لړلیک | | |
|---|---|---|
| شماره | عنوان | صفحه |
| ۱ | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې موجوده پوهنځي او څانګې | ۸ |
| ۲ | د کادري غړو تحصیلي ارتقاء احصائیوي جدول | ۹ |
| ۳ | د موجوده استادانو او محصلانو اړوند احصائیه | ۱۰ |
| ۴ | د مؤسسې د تأسیس څخه تر ۱۳۹۸ کال پورې د فارغ التحصلانو احصائیه: | ۱۰ |
| ۵ | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې لپاره روان او ترسره سوي رغنیز او تدارکاتي فعالیتونه | ۱۱ |
| ٦ | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د بېلابیلو ادارو سره د ګډو همکاریو د هوکړه لیکوونو ادرسونه | ۱۳ |
| ۷ | د خارجي عواملو د تحلیل په موخه د پوښتنپاڼې جوړښت | ۱۵ |
| ۸ | د خارجي عواملو ارزونه او تحلیل | ۱٦ |
| ۹ | د داخلي عواملو د تحلیل په موخه د پوښتنپاڼې جوړښت | ۲۰ |
| ۱۰ | د داخلي عواملو ارزونه او تحلیل | ۲۰ |
| ۱۱ | د سوات په واسطه تحلیل او تجزیه | ۲۵ |
| ۱۲ | ارزګان دلوړو زده کړو مؤسسې اړوند د استادانو لپاره د ماستري پروګرام ټایم لاین جدول | ۳۲ |
| ۱۳ | ارزګان دلوړو زده کړو مؤسسې اړوند د استادانو لپاره د دوکتورا پروګرام ټایم لاین جدول | ۳۳ |
| ۱۴ | د QSPM په اساس د ستراتیژیانو د اولیت ټاکل | ۵۲ |
| ۱۵ | ارزګان د لوړوزده کړو مؤسسی ستراتیژیک اولیت | ۵٦ |
| ۱٦ | د راتلوونکو پنځو کلنو ( ۱۳۹۹-۱۴۰۳ هـ ل ) لپاره د زیربناوو (Infrastructures) د رغولو عملیاتي پلان | ۵۹ |
| ۱۷ | د راتلوونکو پنځو کلنو – ( ۱۳۹۹-۱۴۰۳ هـ ل ) لپاره لوړو زده کړو ته د لاسرسي او علمي پروګرامونو عملیاتي پلان | ٦۳ |
| ۱۸ | د راتلوونکو پنځو کلنو – ( ۱۳۹۹-۱۴۰۳ هـ ل ) ښه حکومتولی عملیاتي پلان | ۷۱ |

| د اشکالو لړلیک | | |
|---|---|---|
| شماره | عنوان | صفحه |
| ۱ | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتیژیکي برنامې چوکاټ | ۳ |
| ۲ | د خارجي عواملو اړوند ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې موقعیت | ۱۹ |
| ۳ | د داخلي عواملو اړوند ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې موقعیت | ۲۳ |
| ۴ | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې ستراتیژیک موقعیت | ۲۳ |
| ۵ | د داخلي او خارجي عواملو ماتریکس | ۲۴ |

## ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د رئیس پیغام

دا چې تحصیلي نهادونه د یوه هیواد او سیمې لپاره تر بل هر څه اړین او د اوسني عصر د ټولو برخو لکه اقتصاد، سیاست، صحت، ټکنالوژي او داسې نورو... شتون او پرمختګ د همدې تحصیلي نهادونو له برکته دی، نو په همدې خاطر د یو تحصیلي نهاد مسؤلیت په یوه ټولنه، هیواد یا سیمې پورې محدود نه دی بلکې د اوسنۍ ساینسي نړۍ د پراختیا لړۍ ته په کتو سره د تحصیلي نهادونو مسؤلیت خورا لوی او د یوه کوچني جغرافیې څخه د یوې لوی جغرافیې د احتوا په تحرک کښې دی، بناً د یو تحصیلي نهاد پراخو او متداومو مسؤلیتونو ته په کتو سره لازمي بلل کیږي چې ووایو چې تحصیلي نهادونه مکلف دي،څو چې خپل ټول خدمات د کمیت او کیفیت سربېره د وخت په دائره کښې هم داسې تنظیم کړي چې د ساحې په اساس د یوې کوچنۍ کچې څخه د لوی کچې لپاره په کښې لید لوری رامنځ ته سي، یادونه باید وسي چې په فعلي وخت کښې د تحصیلي نهادونو په خدماتو کښې د اوسمهالیدو اصل خورا په سرعت مخ په وړاندې درومي چې دې کار نه یوازې دا چې رقابت یې د ذکر سوو نهادونو په منځ کښې زیات کړئ دئ بلکې په تجارتي لحاظ ئې د نوو پرمختګونو لپاره لوی لارې پرانیستي دي، بناّ د خپل هیواد د اړتیاو په نبنه کول او د نړۍ د نورو پوهنتونونو چې خورا د لوړ کیفیت او کمیت څخه برخمن دي سره د رقابت د یو سالم اصل د پلي کېدو لپاره ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اداري پلان کړی چې د خپلو راتلونکو پنځو کلنو لپاره داسې یو ستراتیژیک لوری وټاکي چې نه یوازې دا چې خدمات ئې د وخت، کیفیت او کمیت په اساس په منظم ډول پکښې ترتیب سوي وي؛ بلکې د خدماتو لړۍ ئې د هیواد نورو ولایاتو او د سیمې په کچه وغزوي، چې په همدې خاطر ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اداري د (۱۳۹۹-۱۴۰۳هـ ل) پوري د ستراتیژیک پلان د ترتیب او تنظیم لړۍ د تکامل تر سرحده رسولې ده.

د یوې اداري لپاره لازمي بلل کیږي چې د یوه اوږدومهاله پلان د ترتیب لپاره د ټول هغه فکتورونه مطالعه، تحلیل او تجزیه کړي چې د اداري پر بېلابیلو برخو اغېزې غورځوي، چې دې اصل ته په کتو سره په دې پلان کښې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې داخلي (قوي ټکي او کمزوري ټکي) او خارجي (فرصتونه او تهدیدونه) چاپېریال مطالعه په هر اړخیزه توګه تر سره سوې. د تحلیل او تجزیې څخه وروسته په پلان کښې ځای پرځای سوې ده او همدارنګه په دې پلان کښې بېلابیلو برخو لکه د ولایت په کچه د اداري جلسې، سکتوري ریاستونو، ملي او بین المللي مرستندویه مؤسساتو، مدني فعالینو، دیني علمآو، د رسنیو استازو، د مؤسسې اړوند استادانو، اداري کارمندانو، محصلینو او فارغینو نظر اخستل سوی دی، څو د یوه لوري مو پلان بشپړ او د بل لوري د پلان په تطبیق کښې د ټولو ښکیلو خواو همږغي رامنځ ته سي.

د نوموړی پلان د ترتیب په پروسه کښې د نوي عصر د ټکنالوژۍ پرمختګونو، د پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسساتو اړیکو، د تحقیقاتي کړنلارو پلي کېدو، عصری وسائطو څخه د استفادې او.... برخو ته پوره پاملرنه سوې ده، باید ذکر سي چې په دې پلان کښې مؤسسې د کمي برخې سره سره کیفي برخې ته په پوره ډول توجه کړې ده کوم چې د یوې ټولنې لومړنی شرط او تقاضا ده.

ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسې ټول کادري او اداري ټیم ژمن دی، چې په پوره انرژي سره ټولي چاري د وخت او ضرورت په اساس داسي تنظیم کړي، چې د پلان د پلي کېدو په نتیجه کښي د مؤسسې په بېلابیلو برخو لکه علمي زیربنآوو او اداري کښي مثبتي وي، زه هم د ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسې علمي او محصلانو چارو مرستیال او د پلان د کمیټې د ټولو غړو څخه په بې ساری توگه منندوی یم چي ددې پلان په جوړولو کښي ئې زیار ایستلی دی او هڅه ئې کړې ده چي ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسه د یو بشپړ پنځه کلن ستراتیژیک پلان څخه برخمنه سي.


په درنښت

پوهنیار اسدالله نور

ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسې رئیس

**ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتیژیکي برنامې چوکاټ**

(۱)شکل: ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتیژیکي برنامې چوکاټ



**سریزه:**

دا چې د هیواد ټولي دولتي/غیري دولتي اداري د خپلو فعالیتونو لپاره یو ځانګړی چوکاټ او تقسیم اوقات لري، څو د هغه په واسطه په ټولنه کښي خپل خدمات د وخت او ضرورت سره سم عیار او عرضه کړي، چي په همدې بنیاد ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې هم دخپلو پنځو کالو فعالیتونو لپاره دا (۵) کلن ستراتیژیک پلان د ( ۱۳۹۹-۱۴۰۴ هـ ل ) کالونولپاره ترتیب کړی، چي نوموړی پلان د لوړو زده کړو وزارت ستراتیژۍ، د هیواد د پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسسو د تګ لارو او دهغوی د انکشاف مېتود ته په کتو سره تنظیم سوی دی.

نوموړي پلان د اوسنۍ زماني د پرمختګونو، لکه د ټکنالوژي استعمال، د دقیقو تحقیقاتی پروسو طی مراحل، د عصری وسائطو څخه استفاده، او داسي نورو معیاري کړنلارو ته خاصه پاملرنه سوېده او باید ذکر سي چي د ارزګان لوړو زده کړو مؤسسې اړوند د هری برخي کیفي څنډې ته یو ځانګړی نظر سویدی، څو د فزیکي او نظري تکامل سره په موازي ډول دغه برخه هم پراختیا ومومي، کومه چي د یو تحصیلي مؤسسې لپاره یو اړین شرط شمېرل کیږي او د یوه تحصیلي نهاد څخه د ټولني لومړنۍ غوښتنه د هماغه نهاد د کیفي خدماتو عرضه کول دي.

دا چي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې مخکي معیاري ستراتیژیک پلان نه درلودی، نو په همدې خاطر په ډېر منظم ډول د مؤسسې دباندي د ولایتی اداري مجلس څخه بیا تر سکتوری ریاستونو، مدني فعالینو، ځوانانو دټولني او داسي نورو برخوڅخه نظریات راټول سوی او په دې ستراتیژیک پلان کښي د امکان تر بریده ځای پر ځای سوی دي، چي په اساس به ئې وکولای سو، چي د راتلونکو پنځو کلنو په موده کښي د همدې ستراتیژي په پلي کېدو سره نه یوازي دا چي خدمات مو عرضه کړي وي بلکي د ټولني رضایت به هم حاصل کړی وي.

اړینه ده ذکر کړو چي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند ټولو اداري او کادري پرسونل نظرونه په دې ستراتیژیک پلان کښي ځای پر ځای سویدي او نوموړی پلان د ټولو د نظریاتو د انعکاس یوه شفافه هنداره ده، ځکه چي د مؤسسې هري سطحي او سویې څخه ځانګړي پیشنهادات را ټول او په دې پلان کښي تنظیم سویدي، څو په واسطه ئې وکولای سو ددې پلان په تطبیق کښي د راپیښېدونکو ستونزو او تهدیدونو څخه په پوره ډول مخنیوی وکړو او بل دا چي د نوموړی پلان په اساس زموږ اړیکي د هیواد د نورو پوهنتنونو او تحصیلي نهادونو سره تعریف او د روابطو مهم اصل واضح دی، چي په ټول کښي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند ټول کاری ټیم ژمنتیا لري څو ذکر سوی پلان په پوره او مؤثره توګه تطبیق کړي.

**لیرلید:**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه غواړی، څو د وخت د غوښتنو سره سم د علمي او مسلکي پیاوړتیا په رامنځ ته کولو سره د هیواد د شته ضرورتونو ګراف ټیټ او په ټولنه کښې د علمي تحقیقاتو، باکیفیته تحصیلي پروګرامونو، او منظم تحصیلي چاپېریال په رامنځ ته کولو سره په هیواد کښې د مطرح تحصیلي نهادونو په قطار کښې را څرګنده سي.

**رسالت:**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اداره ژمنتیا لري څو د علمي او مسلکي باکیفیته بشري ځواک د روزلو لپاره په ذکر سوي نهاد کښې د اسلامي او هیواد پالني روحيي، مناسب تحصیلي چاپېریال، د څېړنیزو پروګرامونو او مهارتونو تقویه د نوي او عصري ټکنالوژي په مټ د ټولني په وړاندي خپل مسؤلیت ادا او داسي بشري ځواک تولید کړي، چي وکولای سي د بل هر چا په پرتله د هیواد د پرمختګ لاري چاري ښه حس او شته خلاوي په مناسبو طریقو او تګلارو سره ډکي کړي.

**ارزښتونه:**

- دولس دمادي او معنوي پرمختګ او ودي لپاره ټینګ هوډ .
- دبشر او انساني ژوند لوړ مقام ته درناوی .
- خپل دود او فرهنګ ته وده ورکول .
- مسلکي او معیاري زده کړي .
- دهرډول سمتي ، قومي ، او ژبني تبعیض څخه ډډه کول .
- کارونوکي روڼ والی او د فساد مخنیوی .

**ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د راتلونکو پنځو کلنو (۱۳۹۹-۱۴۰۳ هـ ل) لپاره ستراتیژیک اهداف**

- د ارزګان او هیواد ضرورتونو ته په کتو د مؤسسې په چوکاټ کښې د ۵ روزانه او یو د شپې پوهنځي ایجادول
- د ارزګان او هیواد د اړتیاوو د پوره کولو په خاطر د مؤسسې اړوند بېلا بیلو پوهنځیو کښې د اته څانګو فعالول.
- د تضمین کیفیت او اعتبار ورکوني پروسې ته په رسمي ډول د داخلېدو د تګ لارو عملي کول.
- د اوس په پرتله د استادانو د ظرفیت دوه برابره لوړول د ماستری تر کچې او ۳۰ ٪ د دوکتورا تر کچې د استادانو د ظرفیت لوړول.
- د مؤسسې د استادانو او محصلانو په واسطه د څېړنیزو کړنلارو په پلي کېدو سره په مؤسسه کښې د تحقیقاتو ترویجول.

- د هیواد په داخل او بهر کښې د بېلابیلو تحصیلي نهادونو او سکتوری برخو سره حد اقل د پنځه تفاهم لیکونو لاسلیکول.
- د زیربنآو په برخه کښي ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسې د شته ضرورتونو رفعه کول.
- د اداري فساد سره جدي مبارزه ترسره کول.

## ارزګان دلوړو زده کړو مؤسسې لنډه پېژندنه:

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه چې د هېواد په سطحه یو له مخ پر وده کوونکو تحصیلي مؤسسو څخه شمارل کېږي په ۱۳۹۱ هـ ش کال کښې د افغانستان د مرکزي دولت لخوا په ترین کوټ ښار کښې افتتاح سوه چې په لومړیوکي د ښووني او روزني پوهنځی په ذکر سوې مؤسسه کې په فعالیت پیل وکړ او په دریو څانګو لکه: کېمیا، بیولوژۍ او ریاضي کې محصلان جذب کړل، چې اوس مهال نوموړي پوهنځی شپږ څانګې فعاله لري او خپلي تدریسي۔ چاري مخ ته وړي وروسته په ۱۳۹۲ هـ ش کال کښې د کرهنې پوهنځی هم په یا ده مؤسسه کښې په فعالیت پیل وکړئ، چې نوموړي پوهنځي اوس مهال اګرانومي او هارټېکلچر دوې څانګې لري، ورسته په ۱۳۹۸ کال کې د لوړ زده کړو وزارت د عالي شورا له لوري د ۱۳۹۹ کال لپاره د کمپیوټر ساینس پوهنځی د دوه څانګو (شبکه انجنیری او سیستم معلوماتی) ورته منظور سوه چي تر اوسه ئې په نوموړی پوهنځی کښې محصلین او کادري پرسونل ندی جذب کړی. یاده مؤسسه په مجموع کې ټول ۳۲ تنه رسمي استادان لري چي (۲۳) تنه په ښوونه او روزنه (رئیس د مؤسسې او ښووني او روزني پوهنځي رئیس هم شامل دی) کښې او ۹ تنه استادان په کرهڼه پوهنځی (علمي او محصلانو چارو مرستیال او د کرهنې پوهنځی رئیس هم شامل دی) کښې خپله مقدسه وظیفه مخ ته وړي. د دې مؤسسې اوسنی تشکیل ۷۵ تنه دی او تر اوسه (۱۳۹۸ هـ ش) کال پوري یي (۸۹۰) تنه فارغین په په پنځو دورو کي ټولني ته د ښه خدمت په موخه وړاندي کړي دي .اوس مهال (۱۲۷۱) تنه محصلین د هېواد د بېلا بیلو ولایتو څخه په دې مؤسسه کي زده کړي کوي.

**ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اوسنی وضعیت:**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې په چوکاټ کښې دری پوهنځی (ښووني او روزني، کرهنې او کمپیوټر ساینس) د لسو څانګو په درلودولو سره فعالیت لري، د لا ښه وضاحت په خاطر دی(۱) جدول ته مراجعه وسي.

۱جدول : ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې موجوده پوهنځۍ او څانګې

| شمېره | څانګه (دیپارتمنت) | پوهنځۍ |
|---|---|---|
| ۱ | ریاضي | ښوونې او روزنې پوهنځۍ |
| ۲ | فزیک | |
| ۳ | کېمیا | |
| ۴ | انګلیسي ادبیات | |
| ۵ | پښتو ادبیات | |
| ٦ | بیولوژي | |
| ۷ | اګرانومي | کرهڼې پوهنځۍ |
| ۸ | باغداري | |
| ۹ | سیستم معلوماتی | کمپیوټرساینس پوهنځۍ |
| ۱۰ | شبکه انجینري | د ۱۳۹۹ کال لپاره منظور سوی دی |

یاده مؤسسه خپل د کارکوونکو لپاره ۱۰ MB انټرنټ او منظم ډېزلي او سولري برق لري. دي مؤسسې ټولني ته د مسلکي او وړ محصلینو د وړاندي کولو په برخه کي رغنده ونډه درلودلې ده، په تېر۱۳۹۷ هـ ل کال کي د بېلابېلو څانګو څخه خپل څلورمه دوره فارغان چي شا او خوا ۱۴۷ تنه کېدل ټولني ته وړاندي کړل. باید ووایو چي د مؤسسې چاري مو په محدودو امکاناتو کي چي زموږ په اختیار کي دي منظمي رواني دي، د شفافیت او برېښنایي حکومتولۍ د ترویج په موخه د محصلانو اړوند ټوله اسناد مو په منظم ابتدائې ډاټابیس کښي ځای پر ځای سوی دي. د۱۳۹۷ کال د شروع څخه د کیفیت د لوړاوي پروسه مو د خپلو امکاناتو په چوکاټ کښي پیل کړې ده ،ددې لپاره چي محصلان مو د کار د بازار د غوښتني سره سم روزلي وي د نوي کریکولم څخه استفاده کوو.د کیفیت او کمیت د لوړاوي په موخه ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې رهبري په ډېرکم وخت کي نه ستړي کېدونکي کوښښونه کړي، څو د محصلانو لپاره ښه تدریسي چاپېریال، معیاري ودانۍ،لابراتوارونه او نوري اړیني اسانتیاوي برابري کړي او هڅي مو لا جریان لري.

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د هیواد د نورو پوهنتونو په نسبت یو ځوانه اداره ده چي کارمندان ئي ظرفیت لوړوني او لوړو زده کړو ته اړتیا لري، دې اړتیا ته په کتو یاده اداره یو منظم پلان تر لاس لاندي دی، چي هغه پلان ته په کتنو خپل ټول کارمندان( استادان) وخت پروخت مختلفو هیوادونو ته د لوړو زده کړو د حاصلولو په موخه لیږي د لاښه وضاحت په موخه دي (۲) جدول ته مراجعه وسي.

۲ جدول : د کادري غړو تحصیلي ارتقاء احصائیوي جدول

| د څانګو په اساس د کادري غړو شمېر | لیسانس | ماسټري جریان لري | ماسټر | مجموعه |
|---|---|---|---|---|
| ریاضي | ۱ | ۱ | ۱ | ۳ |
| فزیک | ۱ | ۲ | ۰ | ۳ |
| کېمیا | ۱ | ۲ | ۰ | ۳ |
| انګلیسي ادبیات | ۲ | ۲ | ۰ | ۴ |
| پښتو ادبیات | ۱ | ۳ | ۲ | ٦ |
| بیولوژي | ۲ | ۱ | ۱ | ۴ |
| اګرانومي | ۱ | ۲ | ۲ | ۵ |
| باغداري | ۴ | ۰ | ۰ | ۴ |
| مجموعه | ۱۳ | ۱۳ | ٦ | ۳۲ |

ارزګان دلوړو زده کړو مؤسسې ماموریت او لیرلید په ۱۳۹۸/۳/۲۱ نېټه او ( ۳ ) ګڼه پروتوکول علمي شورا په غونډه کې تائید سوي او یاد ماموریت او لیرلید د تآئید لپاره د لوړو زده کړو محترم وزارت ته لیږل سوی دی، .دا جوته ده چي با کیفتیه زده کړي د وړ بشري ځواک په وړاندي کولو کي رغنده ونډه لري ځکه نو یاده مؤسسه یو روښانه رسالت او لیرلید لري چي هغو ته په کتنو هڅه کوي، خو د هیواد په کچه داسي کادرونه تېولني ته وړاندي کړي چي د ټولني د پرمختګ ،ښیرازۍ او سوکالۍ مصدر وګرځي.

دا چي یاده مؤسسه نوې تأسیس سوې ده؛ ځکه نو د استادانو علمي رتبې هم ټیټي دي، خو د استادانو علاقه چي د لوړو زده کړو د حاصلولو په برخه کي یې لري او همدارنګه د علمي رتبو د چارو په ښه ډول مخ ته وړلو سره ژر دی چي دا ستونزه به هم حل او داستادانو علمي رتبو کچه به هم لوړه سي .د استادانو د علمي رتبو په تفکیک لاندي جدول ترتیب سوی دی.

۳ جدول : دموجوده استادانو او محصلانو اړوند احصائیه

| | |
|---|---|
| پوهاند | 0 |
| پوهنوال | 0 |
| پوهندوی | 0 |
| پوهنمل | 0 |
| پوهنیار | 8 |
| پوهیالی | 25 |
| د ټولو کاندید استادانو شمېر | 8 |
| ټول شمېر | 41 |
| د مردانه محصلانو ټول شمېر | 1258 |
| د ښځینه محصلانو ټول شمېر | 13 |

**ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د تآسیس څخه تر ۱۳۹۸ کال پوري د فارغ التحصیلانو احصائیه:**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د ۱۳۹۴ کال څخه تر ۱۳۹۸ هـ ش کال پوري د دوه پوهنځیو اړوند ۸ څانګو څخه یو زیات شمېر فارغ التحصلان په مسلکي ډول روزلي او ټولني ته ئې د خدمت په خاطر وړاندي کړي دي، چي د ښه وضاحت لپاره دي لاندي جدول ته مراجعه وسي.

۴ جدول : د مؤسسې د تأسیس څخه تر ۱۳۹۸ کال پوري د فارغ التحصلانو احصائیه:

| شماره | پوهنځی | ۱۳۹۴ | ۱۳۹۵ | ۱۳۹۶ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ښوونه او روزنه | ۱۱۲ | ۱۵۴ | ۹۱ | ۸۲ | ۱۲۷ | ۵٦٦ |
| ۲ | کرهڼه | ۰ | ۹۲ | ۸۲ | ٦۵ | ۸۵ | ۳۲۴ |
| | مجموعه | ۱۱۲ | ۲۴٦ | ۱۷۳ | ۱۴۷ | ۲۱۲ | ۸۹۰ |

ارزګان دلوړو زده کړو مؤسسې په ډېر لنډ وخت کې د زیربناوو او تجهیزاتو په برابرولو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی.تر ډېره بریده هغه اسانتیاوې چې د تدریسي او اکاډمیکو فعالیتونو لپاره اړینې دي په واک لري چې یو شمېر یې په لاندې جدول کې یاد سوي دي.

۵ جدول : ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې لپاره روان او ترسره سوي رغنیز او تدارکاتي فعالیتونه

| شمېره | د فعالیت ډول | اوسنی حالت | تمویلونکی |
|---|---|---|---|
| ۱ | د پوهنتون په ۵۰۰ جریبه ساحه کې د یو باب اداري او تدریسي ودانۍ رغول. | پروژه بشپړه سوېده | وزارت تحصیلات عالي |
| ۲ | کمپیوټر لیب فعاله سوی دی | پروژه بشپړه سوېده | د لوړو زده کړو وزارت انکشافي بودیجه |
| ۳ | د کیمیا او بیولوژی لابراتوار فعاله سوی دی | پروژه بشپړه سوېده | وزارت تحصیلات عالي |
| ۴ | د پوهنتون په ساحه کې د ټولو تعمیراتو د انټرنیټ د وصل پروژه | پروژه بشپړه سوېده | د لوړو زده کړو وزارت انکشافي بودیجه |
| ۵ | د څېړنیز مرکز ایجاد سوی | پروژه بشپړه سوېده | د مؤسسې په نوښت |
| ٦ | د تضمین کیفیت مرکز فعاله سوی دی | پروژه بشپړه سوېده | د مؤسسې په نوښت |
| ۷ | د مؤسسې د ۵۰۰ جریبه ځمکې لپاره احاطه منظور سوې ده | پروژه په ۱۳۹۸ کښې منظور سوې ده او ساختماني چارې به ئې په ۱۳۹۹ کښې پیل سي | ریاست جمهوري |
| ۸ | د پوهنتون په ساحه کښې یو باب تدریسي تعمیر | پروژه په ۱۳۹۸ کښې منظور سوې ده او ساختماني چارې به ئې په ۱۳۹۹ کښې پیل سي | ریاست جمهوري |
| ۹ | د پوهنتون په ساحه کښې یو باب تدریسي تعمیر | پروژه په ۱۳۹۸ کښې منظور سوې ده او ساختماني چارې به ئې په ۱۳۹۹ کښې پیل سي | ریاست جمهوري |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱۰۰۰ تنه محصلینو لپاره د لیلیه تعمیر | د لوړو زده کړو محترم وزارت له لوري د ۱۳۹۹ کال په پلان کښي نیول سوی دی | وزارت تحصیلات عالي |
| ۱۱ | د پوهنتون په ساحه کښي یو باب تدریسي تعمیر | د لوړو زده کړو وزارت د پلان او پالیسي محترم ریاست په غوښتنه ورته په نښه سوی دی چي کېدای سي د ۱۳۹۹ کال لپاره منظور سي | وزارت تحصیلات عالي |
| ۱۲ | اډیټوریم چي ۱۰۰۰ تنو ګنجایش ولري | د لوړو زده کړو وزارت د پلان او پالیسي محترم ریاست په غوښتنه ورته په نښه سوی دی چي کېدای سي د ۱۳۹۹ کال لپاره منظور سي | وزارت تحصیلات عالي |
| ۱۳ | د پوهنتون په ساحه کښي یو باب تدریسي تعمیر | پروژه په ۱۳۹۸ کښي منظور سوي ده او ساختماني چاري به ئې په ۱۳۹۹ کښي پیل سي | ښارجوړوني وزارت |

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه په ټولنه کي د خپلي فعالي ونډې درلودلو په موخه په هیواد کي دننه د مختلفو اکاډمیکو او سکتوري ادارو سره د ګډو همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک کړي، دا اداره غواړي چي د نورو د تجربو، څېړنو او امکاناتو څخه خپل د استادانو، اداري کارکوونکو او محصلینو په برخه کي ګټه پورته کړي او همدارنګه د خپلو با تجربه استادانو او محصلینو تجربې، څېړني او زده کړي د ټولني د نورو وګړو او ادارو سره شریکي کړي د لاښه وضاحت په موخه دي لاندي (٦) جدول ته مراجعه وسي.

٦ جدول : ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د بېلابېلو ادارو سره د ګډو همکاريو د هوکړې ليکوونو ادرسونه

| شمېره | د ګډوهمکاريو هوکړه ليکونه | | | |
|---|---|---|---|---|
| | د ولايت په کچه | د هيواد په ګچه | په نړيواله کچه | کتنې |
| 1 | د کرهڼې درياست | دا افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون سره | Sumy National Agrarian University, Ukrain | Sumy National Agrarian University, Ukrain |
| 2 | د چاپريال ساتنې رياست | د افغانستان د باغداری ملي پروژې NHLP | کار ئې په جريان کښې دی. | سره د سند لاسليک لا نهايي سوی نه دی خو پروسه په جريان کي ده. |
| 3 | د اطلاعات و فرهنګ د رياست | | | |
| 4 | حقوق بشر رياست | | | |

**ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې لپاره د SWOT[1] تحلیل:**

د یوه تحصیلي نهاد د فعالیتونو په وړاندي د ځینو خنډونو او تنبه کوونکو عواملو شتون د نهاد د ستراتیژي په تعین او همدارنګه د فعالیتونو د مسیر په تګلوري کښي په پوره ډول تآثیر ګذاره او د فهم وړ برخه بلل کېدای سي چي په دې کښي دوه عمده محیطه (خارجي محیط او داخلي محیط) شامل دي، د یادوني وړ بولم چي د همدې چاپیریال په مطالعه او تحلیل سره کولای سو، چي د خپل نهاد راتلونکي فعالیتونه او د خدماتو لړۍ نه یوازي دا چي په نښه، بلکي د یو منظم ټایم لاین په اساس ترتیب کړو.

ددې لپاره چي په واضح توګه مو د خپل راتلوونکي خدمات او فعالیتونو یو منظم چوکاټ د خپلو امکاناتو (فرصتونو او قوي ټکو) او خنډونو (تهدیدونو او کمزوریو ټکو) ته په کتو سره وټاکو، لازمي بلل کیږي ځو د نهاد د ټولو اړخونو مطالعه په دقیق ډول تر سره او راټول سوي معلومات په یو منظم تشریحی او مقایسوي صورت په ستراتیژیک پلان کښي داسي ځای پرځای سي، چي د فعالیتو د تر سره کولو په وخت کښي په پوره ډول ددې توانایي ولرو چي د مؤسسې لپاره د شته فرصتونو او قوي ټکو څخه په استفاده د محیط بل مخ لکه تهدیدونه او کمزوري ټکي نه یوازي داچي تر تسلط لاندي وساتو بلکي د له منځه وړلو لپاره ئې هلي ځلي وکړو او داسي یو نظام رامنځ ته سي چي د وخت، امکاناتو او فکری قناعت مطابق د پلي کېدو وړ وي.

**د چاپیریال( خارجي او داخلي محیط )پېژندنه:**

څرنګه چي په ستراتیژیک پلان کښي د چاپیریال پر تحلیل په مخکښي برخه کښي په واضح ډول بحث سوی دی نو موږ هم د چاپیریال د ذکر سوي اهمیت په خاطر ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې چاپېریال ( فرصتونه، تهدیدونه قوي ټکي او کمزوري ټکي) په لومړی قدم کښي د یوه ځانګړی مېتود له مخی په نښه او وروسته مو تحلیل او تجزیه کړې دي، یادونه باید وکړو چي د ذکر سوي برخي د تکامل لپاره مو د ولایت په سطحه د بېلا بیلو اقشارو لکه د ولایتي اداري مجلس، سکتوری برخي د مسؤلینو، د ملي او نړیوالو مرستندویه مؤسساتو د مسؤلینو، مدني فعالینو، دیني علمآو، د مؤسسې اړوند کادري او اداري پرسونل او محصلانو نظرونه د ځانګړو پوښتنپاڼو په واسطه را اخیستي او نتیجه مو ئې ددې پلان په محتوا کښي ځای پرځای کړې ده، ځو د مؤسسې اوسنی وضعیت او مؤقیعت په ښه ډول وپېژنو.

---

[1] David, Fred R., and Forest R. David. Strategic management: Concepts and cases: A competitive advantage approach. Pearson, 2013, د سوات انالیز لپاره د ډیویډ،فرید او ډیویډ فوریسټ له مېتود څخه ګټه اخیستل سوې ده.

**د خارجي چاپېریال تحلیل او تجزیه:**

ځرنګه چې مخکې وویل سوه چې د یو نهاد د ستراتیژیک لید لوری او تګلاري لپاره د چاپېریال مطالعه یوه له خورا مهمو موضوعاتو څخه شمېرل کیږي، ځکه چې د هری اداري لپاره داخلي او خارجي محیط د بلي اداري په پرتله که څه هم په یوه نیژدې جغرافیه کښې سره قرار ولري د لوړ توپیر په ګمان دي، ځکه نو په دې ستراتیژیک پلان کښې پر مؤسسې باندي اغېزمن ټول بهرني عوامل په ټولو برخو لکه؛ فرهنګي، سیاسي، ټولنیز، اقتصادي، ټکنالوژیکي او داسي نور عوامل نظر د هغوی د تآثیر په اساس راټول او تر تحلیل او تجزیې وروسته ددې لپاره چې په اساني سره د پوهاوي وړ وي په دې ستراتیژیک پلان کښې ځاي پرځاي سوی دي، لکه ځرنګه چې مخکې هم یادونه وسوه چې د یادو برخو د معلوموملو او تحلیل لپاره د بېلابیلو اقشارو څخه پوښتني سوي دي چې په لومړی سر کښې د مؤسسې د بهرني چاپېریال ټول تآثیر ګذاره موارد د ۷۰ په تعداد په نښه سوه.

**د پوښتنپاڼي طرحه:**

دا چې ذکر سوي ټول بهرني تآثیر لرونکي ۷۰ مواردو تر یوه بریده پیچیدګی او تکراري حالت درلودی، نو ددې لپاره چې د ستونزو د را پېښېدو او تکراري جملاتو څخه مخنیوی سوی وي، نو ټول بهرني تاثیر کننده عوامل مو فلټر او هغوی کښې مو اساسي فکتورونو شمېر ۴۰ ته راټیټ کړل، د اهمیت د میزان او لومړیتوب د اصل پربنسټ ۲۰ کلیدي موارد د تهدیدونو او پاتي ۲۰ یې د فرصتونو په ډول انتخاب کړل، د یادوني وړ ده چې د هر یو فکتور ضریب د هغه اهمیت نظر د هغه د اغېزي په اساس د مؤسسې پر ستراتیژیکو اهدافو باندي ټاکل سوی دي، ځرنګه چې د سازمان د فرصتونو او تهدیدونو د ضریبونو مجموعه به حد اکثر ( ۱ ) وي ځکه نو د ټولو خارجي عواملو د نمراتو مجموعه ( ۴ )په نظر کي نیول سوې او په همدې اساس وروستۍ پوښتنپاڼه هم جوړه سوې ده. په یاده پوښتنپاڼه کښې د هرعامل د اغیزمنتیا د رتبو په چوکاټ کي د ( ۱ ډېرکم اغیز، - ۲ کم اغیز، - ۳ زیات اغیز او - ۴ ډېرزیات اغېزدرلودل ) په بڼه ترتیب سوې ده.

۷ جدول : د خارجي عواملو د تحلیل په موخه د پوښتنپاڼي جوړښت

| شماره | خارجي عوامل | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې پرستراتیژۍ باندي د خارجي عواملو داغیزمنتیا میزان | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | فرصتونه | ۴ | ۳ | ۲ | ۱ |
| شماره | خارجي عوامل | خارجي د باندي پرستراتیژۍ ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې میزان داغیزمنتیا عواملو | | | |
| ۱ | تهدیدونه | ۴ | ۳ | ۲ | ۱ |

**ټولپوښتنه:**

کله چې پوښتنپاڼه ترتیب سوه، نو ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند رهبري غړو، د څانگو امرینو، استادانو، اداري کارمندانو، محصلینو، دولتي اوغیري دولتی اداراتو مسؤلینو، مدني فعالینو، دیني علماوو او د رسنیو استازو ته تقسیم کړل، څو ددوی د فکری قوې په واسطه د ټولو برخو د اغېزمنتیا نمره په فورمو کښې ولیکي، چې پورته برخه په څه ډول چې تشریح سوې ده تکمیل سوه او وروسته مو پوښتنپاڼې راټولي کړې او د ټولو پوښتنپاڼو څخه ۵۰ داني د خارجي او داخلي په نښه سوي مواردو په تحلیل کښې استفاده وکړل چې د ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسې د محیطی فرصتونو او تهدیدونو د لمړیتوبونو مشخصولو لپاره د (رتبهx ضریب) فرمول څخه په استفاده نمرات په لاس راوړل، چې د نمرو مجموعه به یې حد اقل ( ۱ ) او حد اکثر ( ۴ ) وي.

۸ جدول :د خارجي عواملو ارزونه او تحلیل:

| شماره | د خارجي عواملو(ارزونه او تحلیل EFE | ضریب (1) | رتبه (4) | نمره |
|---|---|---|---|---|
| | فرصتونه | | | |
| 1 | دا چې په ولایتي کچه امنیتي حالات ډېرښه ندي خو له نېکه مرغه دمؤسسې اړوند استادانو او محصلانو لپاره د امنیتی تهدیدونو کمښت | 0.044 | 3 | 0.132 |
| 2 | د ولایت په کچه د تجارانو همایه د ارزگان د لوړ زده کړو مؤسسې سره | 0.041 | 4 | 0.164 |
| 3 | په دولتي او غیري دولتي ادارو کښې د ارزگان د لوړ زده کړو مؤسسې څخه د فارغ سویو محصلانو لپاره د پام وړ کاري فرصتونه (نسبت نورو ولایاتو ته) | 0.06 | 3 | 0.18 |
| 4 | په ولایتي کچه د ښه فرهنگي او کلتوري فرصتونو شتون | 0.063 | 2 | 0.126 |
| 5 | د استادانو لپاره د لوړو زده کړو حاصلولوپه برخه کې ښه فرصتونه | 0.059 | 4 | 0.236 |
| 6 | د پوهنتونونو د تجهیز او زیربنآ وو برخې ته د دولت زیاته توجه | 0.052 | 3 | 0.156 |
| 7 | د لوړو زده کړو د حاصلولو په برخه کښې د ځوانانو لیوالتیا زیاتېدل | 0.037 | 3 | 0.111 |
| 8 | په ولایتي کچه د لویو ملي پروژو شتون(د کجکي د بند لوړېدلو پروژه په ارزگان ولایت کښې) | 0.04 | 2 | 0.08 |
| 9 | د زده کړو د معنوي ارزښت اړوند دوگوړو پوهاوی | 0.022 | 3 | 0.066 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 10 | د جندر په برخه کې ارزګان د لوړ زده کړو په مؤسسې د ټولني د اعتماد زیاتوالی | 0.032 | 2 | 0.064 |
| 11 | د یوه داسي پوهنتون فیلیال پاته کېدل چي دهیواد په کچه لومړی مقام لري | 0.05 | 3 | 0.15 |
| 12 | د ولایت په کچه  ارزګان د لوړو زده کړو په مؤسسې د وګړو د باورزیاتېدل | 0.066 | 3 | 0.198 |
| 13 | ارزګان د لوړ زده کړو په مؤسسه کښي د کارکونکي په توګه د نورو ولایاتو د ځوانانو د لېتوالتیا زیاتېدل | 0.046 | 4 | 0.184 |
| 14 | په ولایتي کچه د سکتوری ادارو پوره همایه درلودل | 0.062 | 3 | 0.186 |
| 15 | د اقلیمي بدلونونو سره سره د ارزګان ولایت پاک او مناسب چاپریال درلودل | 0.07 | 4 | 0.28 |
| 16 | د لوړو زده کړو د تحصیلي نصاب نوی کېدل | 0.049 | 3 | 0.147 |
| 17 | د طبعي پېښو ( زلزله، ځمکي ښویدني،سلابونو او داسي نورو...) ډېر کم احتمال | 0.06 | 3 | 0.18 |
| 18 | په ارزګان ولایت ښی آب وهوا، پراخو زراعتي ځمکو، او د اوبو ذیرمو دا زمینه برابره کړي چي د کرهڼي پوهنځی اړوند استادان د کرهڼي او مالداری په برخه کښي ګټور او اړین علمي تحقیقات تر سره کړي. | 0.055 | 4 | 0.22 |
| 19 | د لوړو زده کړو د حاصلولو په موخه د هیواد د بېلابیلو ځوانانو علاقه ډېرېدل ارزګان د  لوړو زده کړو په موسسه کې. | 0.039 | 1 | 0.039 |
| 20 | د لوړو زده کړو وزارت له لوري د تضمین کیفیت اړوند د یو ښه میکانیزم شتون | 0.053 | 4 | 0.212 |
| | ټولټال خارجي عوامل  (فرصتونه) | 1 | 1 | 3.111 |

| شماره | د خارجي عواملو ارزونه او تحليل EFE | ضريب (1) | رتبه (4) | نمره |
|---|---|---|---|---|
| | تهديدونه | | | |
| 1 | د ارزگان ولايت لاري د همسايه ولاياتو او خپل مربوطه ولسواليو سره د امنيتی حالت د خرابوالي په خاطر تړلي دي. | 0.051 | 3 | 0.153 |
| 2 | د ټول ولايت په سطحه هيڅ يو خصوصی پوهنتون وجود نلري | 0.062 | 2 | 0.124 |
| 3 | په ارزگان ولايت کښې د ميشتو اکثره وګړو اقتصادي حالت ټيټ او د ژوند په کښته سطحه کښې ژوند کوي. | 0.04 | 2 | 0.080 |
| 4 | د نړی د غټو او کوچنې پوهنتونونو سره د تفاهم د لاسليک يوه مغلقه او پيچلې لاره. | 0.063 | 2 | 0.126 |
| 5 | د هيواد او په خاصه توګه د لوړو زده کړو په وزارت کښې لوړه بيوکراسي. | 0.051 | 2 | 0.102 |
| 6 | په ارزگان ولايت کښې د مخدره توکو کرکيله او استعمال. | 0.045 | 3 | 0.135 |
| 7 | د ولايت عمومي امنيتی خراب حالت د نړيوالو مرستندويه سازمانونو توجه دې ولايت ته کمه کړې ده. | 0.042 | 2 | 0.084 |
| 8 | د مرکز څخه ددې ولايت لويه فاصله | 0.061 | 3 | 0.183 |
| 9 | په لوړو زده کړو وزارت کښې د ظرفيت د لوړولو لپاره د يوه واضح ميکانيزم نه شتون | 0.061 | 2 | 0.122 |
| 10 | غيري معياري لوايح او قوانين | 0.053 | 3 | 0.159 |
| 11 | د هيواد او سيمي په کچه د پوهنتونونو سره د خلګو د همکاري ټيټ ګراف | 0.048 | 1 | 0.048 |
| 12 | پوهنتونونو ته د امکاناتو او تجهيزاتو غيري عادلانه وېش | 0.037 | 4 | 0.148 |
| 13 | د تحصيل د اهميت په اړه په ارزگان ولايت کښې د ميشتو وګړو کم پوهاوی | 0.057 | 3 | 0.171 |
| 14 | د ملک په سطحه د اداري فساد شتون. | 0.048 | 2 | 0.096 |
| 15 | د تحصيلي نهادونو اکاډميک پرمختګ په وړاند د لوړو زده کړو وزارت نه توجه | 0.047 | 1 | 0.047 |
| 16 | په رسمي ژبو معتبرو علمي منابع ته کم لاس رسي | 0.052 | 1 | 0.052 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 17 | د کادري او اداري تشکیل کموالی | 0.042 | 2 | 0.084 |
| 18 | د هیواد په کچه په مکاتیبو کښې د تدریسي بهیر کم کیفیت | 0.054 | 1 | 0.054 |
| 19 | د علمي استقلالیت نه شتون | 0.04 | 4 | 0.160 |
| 20 | د مالي استقلالیت نه شتون | 0.046 | 3 | 0.138 |
| | ټولټال خارجي عوامل (تهدیدونه) | 1 | | 2.266 |
| | ټولټال خارجي عوامل | 0.845 | | |

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې لپاره د خارجي محیط د تحلیل په نتیجه کښې باید ووایو چې د فرصتونو او تهدیدونو کمیت (0.845) مثبت دي، چې په اساس ئې ویلای سو چې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه فعلآ هم یو زیات شمېر فرصتونه لري چې د خپلو ټولو فعالیتونو په ترسره کولو او لا قوي کولو کښې ترې مستفیده سي، خو داسې یوه پایله چې تمه ځنې کیږي په لاس راوړی، ولي باید په یاد ولرو چې ذکر سوي رقم چې د امتیاز حد اکثر (۴) په پرتله خورا کم دی نو د باید د تهدیدونو څخه هم صرف نظر ونکړو او هغوی ته هم د احتمالي خطر په ډول چمتووالي ولرو.

(۲)شکل : د خارجي عواملو اړوند ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې موقعیت




**د داخلي چاپېریال تحلیل او تجزیه:**

داخلي ټول هغه عوامل چې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې پر بېلابیلو فعالیتونو او اړخونو ئې تاثیر درلودی لومړی په نښه کړل چې شمېر ئې ۶۰ ته رسیدی او وروسته د مؤسسې د رهبري او پلان کمېټې په واسطه ئې موازي

موارد مدغم او شمېرى ئې د خارجي عواملو په شان ۴۰ ته راټيټ کړل سو چي د وروستيو مؤثره او د فهم وړ داخلي عوامل وبلل سوه، چي د اهميت د ميزان او لمړيتوب د اصل پربنسټ ۲۰ کليدي موارد د قوي ټکو او پاتي ۲۰ ئې د ضعيفو ټکو په ډول انتخاب سول، د يادولو وړ ده چي ټول داخلي عوامل ۴۰ دي چي د هريوه ضريب د هغه د اهميت نظر د پوهنتون د ستراتيژيکو اهدافو ټاکلو ته په پام کي نيول سويدي. څرنګه چي د سازمان د قوي او کمزورو ټکو د ضريبونو مجموعه به حد اکثر ( ۱ ) وي څکه نو د ټولو داخلي عواملو د نمراتومجموعه ( ۴) په نظر کښي نيول سوې او په عين ډول وروستې پوښتنپاڼه هم ترتيب سوې ده. په ياد پوښتنليک کښي د هر عامل د اغېزمنتيا د رتبو په چوکاټ کښي د (۱ ډيرکم اغيز، - ۲ کم اغيز، - ۳ زيات اغيز او - ۴ ډيرزيات اغيزدرلودلو ) په بڼه ترتيب سوې ده.

۹ جدول : د داخلي عواملو د تحليل په موخه د پوښتنپاڼي جوړښت

| شماره | داخلي عوامل | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې پرستراتيژۍ باندي د داخلي عواملو داغيزمنتيا ميزان | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | قوي ټکي | ۴ | ۳ | ۲ | ۱ |
| شماره | داخلي عوامل | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې پرستراتيژۍ باندي د داخلي عواملو داغيزمنتيا ميزان | | | |
| ۱ | کمزوري ټکي | ۴ | ۳ | ۲ | ۱ |

۱۰ جدول :د داخلي عواملو ارزونه او تحليل

| شماره | د داخلي عواملو ارزونه او تحليل IFE | ضريب (1) | رتبه (4) | نمره |
|---|---|---|---|---|
| | قوي ټکي | | | |
| 1 | د بېلابېلو تحصيلي او سکتوری برخو سره د ګډو همکاريو د هوکړه ليکونو موجوديت او فرصت شتون. | 0.041 | 2 | 0.082 |
| 2 | د استادانو او کارمندانو د کار کولو ژمنتيا او د عالي روحيې شتون | 0.018 | 4 | 0.072 |
| 3 | د ځوان، او متحد کاري ټيم موجوديت ارزګان د لوړو زده کړو په مؤسسه کښي. | 0.053 | 3 | 0.159 |
| 4 | د تضمين کيفيت لومړۍ مرحلي ته د داخلېدو امادګي | 0.028 | 2 | 0.056 |
| 5 | په کمه موده کښي د استادانو د ظرفيت د لوړولو په برخه برياليتوب (د توقع خلاف) | 0.061 | 3 | 0.183 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 6 | د پوهنتون لپاره د ۵۰۰ جریبه ځمکي تر لاسه کول | 0.091 | 4 | 0.364 |
| 7 | د عصري ټکنالوژي څخه په ټول اداري او تدریسي سیستم کښي استفاده کول. | 0.052 | 3 | 0.156 |
| 8 | ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې لپاره د یو واضح ستراتیژیک مسیر موجودیت. | 0.047 | 3 | 0.141 |
| 9 | د زیربنآو او نورو تجهیزاتو لپاره د بېلابیلو برخو څخه د مرستو جلبول. | 0.05 | 2 | 0.100 |
| 10 | د مؤسسې په کچه د بېلابیلو برخو د لاښه والي لپاره د مختلفو ارزونو د تګلارو موجودیت. | 0.042 | 4 | 0.168 |
| 11 | تقریباً په ټولو څانګو کښي د پرمختللي او لوړ اعتبار لرونکي کریکولم څخه استفاده. | 0.06 | 3 | 0.180 |
| 12 | د بېلابیلو ادارو څخه ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې لپاره د اړتیاوو پوره کول. | 0.04 | 1 | 0.040 |
| 13 | د څېړنیزو او کیفیت د لوړاوي د مراکزو شتون | 0.094 | 3 | 0.282 |
| 14 | د منظمي بریښنا شتون | 0.07 | 3 | 0.210 |
| 15 | د منظم انټرنیټ شتون | 0.016 | 3 | 0.048 |
| 16 | د شفاف علمي، اداري او تدریسي چوکاټ موجودیت | 0.045 | 2 | 0.090 |
| 17 | د ماسټري او دوکتورا لپاره د استادانو لوړه تقاضا | 0.057 | 4 | 0.228 |
| 18 | د هیواد د زیاتو ولایتونو اړوند د استادانو، مامورینو او محصلینو شتون په مؤسسه کښي | 0.042 | 4 | 0.168 |
| 19 | د منظم امنیتی چوکاټ موجودیت (CCTV) | 0.061 | 4 | 0.244 |
| 20 | د استادانو او اداري پرسونل څخه د متشکیلو فعالو کمېټو شتون | 0.032 | 3 | 0.096 |
| | ټولټال داخلي عوامل (قوي ټکي) | 1 | | 3.067 |




URZU STRATEGIC PLAN

| شماره | د داخلي عواملو ارزونه او تحلیل IFE | ضریب (1) | رتبه (4) | نمره |
|---|---|---|---|---|
| | کمزوري ټکي | | | |
| 1 | د استادانو مامورینو لپاره د استوګنې د ځای نه شتون | 0.054 | 3 | 0.162 |
| 2 | د پوهنځیو کمښت | 0.03 | 1 | 0.030 |
| 3 | د تحقیق لپاره د امکاناتو او ساحې نه شتون | 0.057 | 2 | 0.114 |
| 4 | د یو صحی مرکز نه شتون | 0.04 | 3 | 0.120 |
| 5 | د یوې غني کتابخانې نه شتون | 0.018 | 2 | 0.036 |
| 6 | د ټولو برخو د ثبت لپاره د یو عصري کمپیوټري ډاټابیس نه شتون | 0.042 | 1 | 0.042 |
| 7 | د نړیوالو پوهنتونونو سره د ګډو همکاریو د تفاهم لیکونو نه شتون | 0.03 | 4 | 0.120 |
| 8 | د زیربنآو (لوبغالی، دغونډو تالار، لیلیه تعمیر او ...) کموالی | 0.054 | 4 | 0.216 |
| 9 | د مؤسسې لپاره د کفیټریا نه شتون | 0.054 | 2 | 0.108 |
| 10 | د لوړ شمېر استادانو مصروفیت د ماسټري په پروګرام او پر مؤسسې د لوړ کاري فشار رامنځ ته کېدل. | 0.046 | 2 | 0.092 |
| 11 | په پوره ډول د استفادې وړ نقلیه وسایطو نه شتون | 0.052 | 3 | 0.156 |
| 12 | د استادانو او محصلانو د نقلیه وسائطو لپاره د یو اساسي تمځای نه شتون | 0.044 | 2 | 0.088 |
| 13 | د لوړ رتبه استادانو نه شتون | 0.06 | 2 | 0.120 |
| 14 | د مؤسسې په سطحه د معلوماتی ټکنالوژي د مرکز نه شتون. | 0.037 | 3 | 0.111 |
| 15 | د یو مجهز لابراتوار نه شتون | 0.051 | 4 | 0.204 |
| 16 | د مؤسسې اړوند استادانو او اداري پرسونل لپاره د ټرانسپورټي سهولت نه موجودیت. | 0.09 | 2 | 0.180 |
| 17 | د نشراتو (علمي مجله، پوسټر، بینر او...) لپاره کافی بودیجې نه شتون | 0.07 | 2 | 0.140 |
| 18 | په هر صنف کښې تر اصلي معیار د زیاتو محصلانو موجودیت. | 0.051 | 2 | 0.102 |
| 19 | د PDC مرکز نه شتون | 0.06 | 3 | 0.180 |
| 20 | د علمي کنفرانسونو ارائیه ته د استادانو کمه لیوالتیا | 0.06 | 4 | 0.240 |
| | ټولټال داخلي عوامل (کمزوري ټکي) | 1 | | 2.561 |
| | ټولټال داخلي عوامل | | | 0.506 |




URZU STRATEGIC PLAN

(۳) شکل : د داخلي عواملو اړوند د ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې موقعیت




**نظر د SWOT تحلیل ته ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې ستراتیژیک لوری یا موقعیت په لاندي ګراف کي ښودل سوی دئ.**


(۴) شکل :ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې ستراتیژیک موقعیت






URZU STRATEGIC PLAN

(۵) شکل: د داخلي او خارجي عواملو ماتریک




**د SWOT تجزیه او تحلیل:**

**د سواټ د برخي د تحلیل او تجزیې څخه منظور دادئ، چې داسي ستراتیژي غوره او دپلي کېدو لپاره ئې هلي ځلي وسي چي د تحصیلي نهاد لپاره د شته فرصتونو او قوي ټکو زیاتوالی او قوت اعظمي حد ته ورسیږي او په مقابل کښي ئې د تهدیدونو او کمزوریو ټکو ګراف تر حد اقل ورسیږي .**

**سواټ (SWOT) مطلب د نهاد د قوي ټکي(Strenghts)، کمزوري ټکي (Weaknesses) فرصتونو (Opportunities) او تهدیداتو (Treaths) څخه دي.**

۱۱ جدول: د سواټ تجزيه او تحليل

| داخلي عوامل<br>Internal Factors | د قوت ټکي (Strenghts) | کمزوري ټکي (Weaknesses) |
| --- | --- | --- |
| | 1. د بېلابېلو تحصيلي او سکتوری برخو سره د ګډو همکاريو د هوکړه ليکونو موجوديت او فرصت شتون. | 1. د استادانو مامورينو لپاره د استوګنې د ځای نه شتون |
| | 2. د استادانو او کارمندانو د کار کولو ژمنتيا او دعالي روحيې شتون | 2. د پوهنځيو کمښت |
| | 3. د ځوان، او متحد کاری ټيم موجوديت ارزګان د لوړو زده کړو په مؤسسه کښې. | 3. د تحقيق لپاره د امکاناتو او ساحې نه شتون |
| | 4. د تضمين کيفيت لومړی مرحلې ته د داخلېدو امادګي | 4. د يو صحي مرکز نه شتون |
| | 5. په کمه موده کښې د استادانو د ظرفيت د لوړولو په برخه کې برياليتوب (د توقع خلاف) | 5. د يوې غني کتابخانې نه شتون |
| | 6. د پوهنتون لپاره د ۵۰۰ جريبه ځمکې تر لاسه کول | 6. د ټولو برخو د ثبت لپاره د يوه عصري کمپيوټري ډاټابيس نه شتون |
| | 7. د عصری ټکنالوژۍ څخه په ټول اداري او تدريسي سيستم کښې استفاده کول. | 7. د نړيوالو پوهنتونونو سره د ګډو همکاريو د تفاهم ليکونو نه شتون |
| | 8. ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې لپاره د يو واضح ستراتيژيک مسير موجوديت. | 8. د زيربناو (لوبغالی، دغونډو تالار، ليليه تعمير او ...) کموالی د مؤسسې لپاره د کفيټريا نه شتون |
| | 9. د زيربناو او نورو تجهيزاتو لپاره د بېلابېلو برخو څخه د مرستو جلبول. | 9. د مؤسسې لپاره د کفيټريا نه شتون |
| | 10. د مؤسسې په کچه د بېلابېلو برخو د لابنه والي لپاره د مختلفو ارزونو د تګلارو موجوديت. | 10. د لوړ شمېر استادانو مصروفيت د ماسټرۍ په پروګرام او پر مؤسسې د لوړ کاري فشار رامنځ ته کېدل. |
| | 11. تقريباً په ټولو څانګو کښې د پرمختللي او لوړ اعتبار لرونکي کريکولم څخه استفاده. | 11. په پوره ډول د استفادې وړ نقليه وسايطو نه شتون |
| | 12. د بېلابېلو ادارو څخه ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې لپاره د اړتياو پوره کول. | 12. د استادانو او محصلانو د نقليه وسائطو لپاره د يو اساسي تمځای نه شتون |
| | 13. د څېړنيز او کيفيت د لوړاوي مراکزو شتون | 13. د لوړ رتبه استادانو نه شتون |
| | 14. د منظمې بريښنا شتون | 14. د مؤسسې په سطحه د معلوماتي ټکنالوژۍ د مرکز نه شتون. |
| | 15. د منظم انټرنيټ شتون | 15. د يو مجهز لابراتوار نه شتون |
| | 16. شفاف علمي، اداري او تدريسي چوکاټ موجوديت | 16. د مؤسسې اړوند استادانو او اداري پرسونل لپاره د ټرانسپورټې سهولت نه موجوديت. |
| | 17. د ماسټرۍ او دوکتورا لپاره د استادانو لوړه تقاضا | 17. د نشراتو (علمي مجله، پوسټر، بينر او نور...) لپاره کافي بوديجې نه شتون |
| | 18. د هيواد د زياتو ولايتونو اړوند د استادانو، مامورينو او محصلينو شتون په مؤسسه کښې | 18. په هر صنف کښې تر اصلي معيار د زياتو محصلانو موجوديت. |
| | 19. د منظم امنيتي چوکاټ موجوديت (CCTV) | 19. د PDC مرکز نه شتون |
| خارجي عوامل<br>External Factors | 20. د استادانو او اداري پرسونل څخه دمتشکيلو فعالو کمېټو شتون | 20. د علمي کنفرانسونو ارائې ته د استادانو کمه ليوالتيا |

| فرصتونه (Opportunities) | (SW) | (WO) |
|---|---|---|
| 1. دا چې په ولایتي کچه امنیتي حالات ډېرښه ندي خو له نېکه مرغه دمؤسسې اړوند استادانو او محصلانو لپاره د امنیتی تهدیدونو کمښت<br>2. د ولایت په کچه د تجارانو حمایه ارزګان د لوړ و زده کړو مؤسسې سره<br>3. په دولتي او غیري دولتي ادارو کښې د ارزګان د لوړ زده کړو مؤسسې څخه د فارغ سویو محصلانو لپاره د پام وړ کاری فرصتونه (نسبت نورو ولایاتو ته).<br>4. په ولایتي کچه د ښه فرهنګي او کلتوري فرصتونو شتون.<br>5. د استادانو لپاره د لوړو زده کړو حاصلولپه برخه کې ښه فرصتونه.<br>6. د پوهنتونونو د تجهیز او زیربناْ وو برخې ته د دولت زیاته توجه<br>7. د لوړو زده کړو دحاصلو په برخه کښې د ځوانانو لیوالتیا زیاتېدل<br>8. په ولایتي کچه د لویو ملي پروژو شتون(د کجکي د بند لوړېدلو پروژه په ارزګان ولایت کښې)<br>9. د زده کړو د معنوی ارزښت اړوند دوګورو پوهاوي<br>10. د جندر په برخه کي ارزګان د لوړ زده کړو په مؤسسې د ټولني د اعتماد زیاتوالی<br>11. د یو داسي پوهنتون فیلیال پاته کېدل چې دهیواد په کچه لومړی مقام لري<br>12. د ولایت په کچه ارزګان د لوړو زده کړو په مؤسسې د وګړو د باور زیاتېدل<br>13. په ارزګان د لوړ زده کړو په مؤسسه کښې د کارکونکي په توګه د نورو ولایاتو د ځوانانود لیتوالتیا زیاتېدل<br>14. په ولایتي کچه د سکتوري ادارو پوره حمایه درلودل<br>15. د اقلیمي بدلونونو سره سره د ارزګان ولایت پاک او مناسب چاپېریال درلودل<br>16. د لوړو زده کړو د تحصیلي نصاب نوی کېدل<br>17. د طبعي پیښو ( زلزله، ځمکي ښویدنې،سلابونو او داسي ...) ډېر کم احتمال<br>18. د ارزګان ولایت ښی آب وهوا، پراخو زراعتي ځمکو، او د اوبو ذیرمو دا زمینه برابره کړې چې د کرهنې پوهنځی اړوند استادان د کرهنې او مالداری په برخه کښې ګټور او اړین علمي تحقیقات تر سره کړي.<br>19. د لوړو زده کړو د حاصلولو په موخه د هیواد د بېلابیلو ځوانانو علاقه ډېرېدل ارزګان د لوړو زده کړو په موسسې کښې<br>20. د لوړو زده کړو وزارت له لوري د تضمین کیفیت اړوند د یو ښه میکانیزم شتون | 1. د $s^6$ په واسطه د $o^{17}, o^{15}, o^6, o^{18}$ او $o^2$ تر لاسه کول<br>2. د $s^1$ او $s^2$ په واسطه د $o^5, o^7, o^{12}$, $o^{13}, o^{16}, o^{19}$ او $o^{20}$ تر لاسه کول<br>3. د $s^{20}$ په واسطه د $o^4$ او $o^{10}$ تر لاسه کول.<br>4. د $s^5$ په واسطه د $o^1$ او $o^{11}$ تر لاسه کول<br>5. د $s^8$ په واسطه د $o^3, o^6, o^8, o^9$ تر لاسه کول. | 1. د $o^6$ په واسطه د $w^1, w^3$, $w^5, w^6, w^8, w^{11}, w^{12}$, , $w^4, w^{16}, w^{17}, w^{15}$ او $w^{19}$ کمول.<br>2. د $o^2$ په واسطه د $w^9$ کمول.<br>3. د $o^5$ په واسطه د $w^{13}$ کمول.<br>4. د $o^7$ او $o^{11}$ په واسطه د $w^{20}, w^{18}, w^{10}$, او $w^2$ کمول. |
| تهدیدونه (Threats) | (ST) | (WT) |
| 1. د ارزګان ولایت لاري د همسایه ولایاتو او خپلو مربوطه ولسوالي سره د امنیتي حالت د خرابوالي په خاطر ترلي دي.<br>2. د ټول ولایت په سطحه هیڅ یو خصوصی پوهنتون وجود نلري<br>3. په ارزګان ولایت کښې د میشتو اکثره وګړو اقتصادي حالت ټیټ او د ژوند په کښته سطحه کښې ژوند کوي.<br>4. د نړی د غټو او کوچني پوهنتونونو سره د تفاهم د لاسلیک یوه مغلقه او پیچلي لاره.<br>5. د هیواد او په خاصه توګه د لوړو زده کړو په وزارت کښې لوړه بیوکراسي.<br>6. په ارزګان ولایت کښې د مخدره توکو کرکیله او استعمال.<br>7. د ولایت عمومي امنیتي خراب حالت د نړیوالو مرستندویه سازمانونو توجه دې ولایت ته کمه کړې ده.<br>8. د مرکز څخه ددې ولایت لویه فاصله<br>9. په لوړو زده کړو وزارت کښې د ظرفیت د لوړولو لپاره د یو واضح میکانیزم نه شتون<br>10. غیري معیاري لوایح او قوانین<br>11. د هیواد او سیمې په کچه د پوهنتونونو سره د خلګو د همکاري ټیټ ګراف<br>12. پوهنتونونو ته د امکاناتو او تجهیزاتو غیري عادلانه وېش | 1. د $s^1$ په واسطه د $t^4, t^7, t^8, t^9, t^{10}$, $t^{11}, t^{15}$ او $t^{16}$ تر لاسه کول.<br>2. د $s^2$ په واسطه د $t^{13}, t^1, t^3, t^{18}, t^{19}$ او $t^{20}$ تر لاسه کول.<br>3. د $s^8$ په واسطه د $t^5, t^6, t^2$, او $t^8$ ترلاسه کول.<br>4. د $s^{16}$ په واسطه د $t^{14}$ تر لاسه کول.<br>5. د $s^9$ په واسطه د $t^{12}$ تر لاسه کول. | 1. د $w^{13}$ په ساتلو سره د $t^{15}$, $t^{17}$ $t^{16}, t^{14}, t^8, t^6$ او $t^{19}$ څخه مخنیوی.<br>2. د $w^7$ په ساتلو سره د $t^4, t^7$, $t^{10}, t^9$, او $t^{11}$ څخه مخنیوی.<br>3. د $w^1$ په ساتلو سره د $t^1$ او $t^2$ مخنیوی.<br>4. د $w^{16}$ په ساتلو سره د $t^3$ او $t^{12}$ مخنیوی.<br>5. د $w^{10}$ په ساتلو سره د $t^5$ او $t^{13}$ مخنیوی. |



URZU STRATEGIC PLAN

| | | |
|---|---|---|
| 13. د تحصیل د اهمیت په اړه په ارزګان ولایت کښې د میشتو وګړو کم پوهاوی | | |
| 14. د ملک په سطحه د اداري فساد شتون. | | |
| 15. د تحصيلي نهادونو اکاډمیک پرمختګ په وړاند د لوړو زده کړو وزارت نه توجه | | |
| 16. په رسمي ژبو معتبرو علمي منابع ته کم لاس رسي | | |
| 17. د کادري او اداري تشکیل کموالي | | |
| 18. د هیواد په کچه په مکاتیبو کښې د تدریسي بهیر کم کیفیت | | |
| 19. علمي استقلاليت نه شتون | | |
| 20. د مالي استقلاليت نه شتون | | |

**د لوړو زده کړو وزارت د ملي ستراتيژيک پلان اوليتونه:**

د لوړو زده کړو محترم وزارت د ملي ستراتيژيک پلان اوليتونه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د لومړيتوبونو په اساس ټاکل سوي دي چي په عين ډول خپل ستراتيژۍ ترتيب او په لاره اچوي، چي ذکر سوي لومړيتوبونه په لاندي ډول سره ذکر کوو.

**(1) ښه حکومتولي**

- ❖ مالي استقلاليت
- ❖ د معلوماتی ټکنالوژي پراختيا
- ❖ د اداري فساد په ضد هڅی
- ❖ د جندر اړوند

**(2) د علمي پروګرامونو پراختيا**

- ❖ ظرفيت لوړونه
- ❖ د کيفيت د لوړاوي اعتبار تر لاسه کول
- ❖ علمي څېړونو او نوښتونوته وده اوعموميت ورکول

**(3) لوړو زده کړو ته لاسرسي**

- ❖ د تدريس د پروسې کيفيت لوړونه

**(4) د بنسټيزو تأسيساتو او زيربناوو ته پراختياورکول**

**(1) بنه حکومتولي:**

❖ **مالي استقلالیت تر لاسه کول**

د هیواد د لوړو زده کړو محترم وزارت د قوانینو په اساس هغو پوهنتونونو ته مالي استقلالیت ورکول کیږي، کوم چې د ظرفیت په اساس د ذکر سوي استقلالیت وړتیا ولري، چې مخکي همدا چاري پیل سوي دي او د مرکزی پوهنتونونو څخه وروسته به د هیواد نور پوهنتونونه هم ددې فرصت څخه برخمن سي، چې دا کار به د یو لوړي پوهنتونونه وهڅوي څو د مالي منابعو سرچینې ومومي او د بلي خوا به توانایي وموميي څو خپل ضرورتونه او راتلونکي برنامې د یو مستقل نهاد په ډول تمویل کړي او په دې برخه کښې د شته مالي سیستم په پرتله یو اسانه او سریع مالي او تدارکاتي چوکاټ رامنځ ته سي، بناً ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د همدې فرصت د لاسته راوړلو لپاره غواړي چې په مؤسسه پوري مربوط یو لړ عایداتي منابع ومومي او د فعاله کېدو سره سره ئې د بقآ لپاره هڅې وکړې، چې ددې برخي لپاره ئې ځیني فعالیتونو ته په لاندي ډول نظر اچوو چې په راتلونکو پنځو کلونو کاری چوکاټ کښې به شتون ولري.

**لمړی اړتیا :د مالي خپلواکی لپاره د عایداتي منابعو پیداکول**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي، چې د مالي خپلواکی لپاره د عایداتي منابعو د پیداکېدو په لړۍ کښې د شپې پوهنځی ایجاد کړي او همدارنګه لازمي بولو چې د مؤسسې اړوند د کرهڼي پوهنځی په چوکاټ کښې د یو تحقیقاتي او تولیدي فارم په رامنځ ته کولو سره د کرهڼي او مالداری په برخه کښي عایداتي منابع پیداکړي، او همدارنګه پلان لري چې د ولایت په کچه د کرهڼي، اوبولګولو او مالداری ریاست او د کرهڼي په سکتور پوري اړوند غیري دولتي مرستندویه مؤسساتو سره په ګډه د پوهنتون په ځمکه کښي یو کرنیزه تولیدي ساحه په نښه او د امکاناتو په صورت کښي یوه اندازه تولید ولري او په اساس ئې مؤسسه د مالي خپلواکي سرحد ته نیژدې کړي.

**کړني:**

1) د پوهنتون د مالي استقلالیت لپاره د اجرائیوي او عملیاتي طرحي او پلان ترتیبول.
2) د شپې پوهنځی ایجادول.
3) د معیاري شنو خونو په جوړولو سره د کال په هر موسم کښي د سبزیجاتو عرضه کول بازار ته.
4) د ماهیانو، شاتومچیو او نورو په روزني سره عایداتی منابع رامنځ ته کول.
5) د کرنیزو تولیداتو موسمي نندارتون جوړول.
6) نړۍوالو او کورنیو مؤسساتو کارکوونکو ته د کرهڼي او مالداری اړوند ورکشاپونه چمتو کول.
7) د اصلاح سویو تخمونو تولید او مارکیټ ته وړاندي کول.
8) د مؤسسې اړوند د مالداری او کرهڼي اړوند محصولاتو لپاره بازار پیداکول.

❖ **معلوماتي ټکنالوژۍ ته پراختیا ورکول:**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه ژمنتیا لري چي په ټولو برخو کښي د لاښه شفافیت او د فعالیتونو د چټکتیا په موخه د پرمخ تللي ټکنالوژیکي سهولتونو څخه استفاده وکړي، چي په ځینو برخو کښي فعلاً تر یو بریده امکانات وجود لري او پر دې سربېره د راتلونکو پنځو کلونو لپاره په ذکر سوې برخه کښي خپل فعالیتونه په لاندي ډول را خلاصه کوي.

**لمړی اړتیا :برېښنائي حکومتولی (E- governance) ته پراختیا ورکول**

ددې لپاره چي اداري او تدریسي بهیر مو په ښه ډول پر مخ بېولي وي نو د ټکنالوژي په برخه کښي د شته امکاناتو او نورو فرصتونو څخه په استفاده ذکر سوې برخه تنظیموي، چي په واسطه به ئې په مؤسسه کښي یو ښه او مناسب اداري او تدریسي چاپېریال رامنځ ته سوی وي او په دې سره به وتوانیږو چي د مؤسسې اداري او تدریسي بهیر تر یوه بریده برېښنایي کړو، ځکه چي برېښنایي حکومتولي د اسنادو د خوندي ساتلو سره سره په کارونو کښي سرعت هم رامنځ ته کوي.

**کړني:**

1) د مؤسسې لپاره د یو ویب سایټ جوړول.
2) د جوړ سوي ویب سایټ لپاره په پښتو او دري ژبو سر بېره په انګلیسي(نړیواله) ژبه مواد اضافه کول.
3) د انټرنیټ د سمي استفادې په موخه د یو قوي کنټرول سیستم ( Firewall ) فعالول.
4) د HEMIS په سیستم کي د محصلانو ثبتول او د یاد سیستم په اندازه تري ګټه پورته کول.
5) د برېښنایي معلوماتو( ایمیلونه )ارشیف جوړول.
6) د پوهنتون د بېلابېلو اداري برخو د سریع افهام او تفهیم په خاطر د تلیفوني شبکې فعالول.

**دوهمه اړتیا: برېښنایي زده کړو ( E-learning ) ته پراختیا ورکول.**

برېښنایي زده کړي د لوړو زده کړو په نهادونو کښي یو له خورا ضروري فکتورونو څخه شمېرل کیږي، چي د ذکر سوي فکتور اهمیت او ضرورت ته په کتو سره ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چي په دې برخه کښي د خپلو امکاناتو په دائره کښي سهولتونه رامنځ ته کړي.

**کړني:**

1) د الکترونیکي کتابتون ایجادول.
2) د استادانو او محصلانو د بېلابېلو انلاین کتابتونونو او څېړنیزو مرکزونو سره وصلول.
3) د محصلانو لپاره د برېښنایي زده کړو زمینه برابرول.
4) د محصلانو لپاره د انټرنیټ اسانتیا برابرول.
5) د محصلانو د تدریس لپاره د هیواد دننه او دباندي د معتبرو پوهنتونو څخه انلاین د تدریس اسانتیا برابرول.
6) د انلاین تدریس په موخه د ویډیو کنفرانس سیستم چمتو کول.

❖ **د اداري فساد په وړاندې مبارزه:**

اداري فساد د یو هیواد او په خاصه توګه د تحصیلي نهادونو لپاره تر بل هر څه مضر او تخریبوونکې پدیده ده چې کولای سي اعتدال له منځه یوسي، او د یوې اداري حیثیت ته لوړه صدمه ورسوي، او همدارنګه باید وویل سي چې اداري فساد که په هره سطحه او هره کچه وي زیان ئې خورا لوی او د سازمان لپاره د زهر په شان تماميږي.

د اداري فساد مضرو پایلو ته په کتو سره ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې رهبري هڅه کوي چې د مؤسسې په ټولو برخو کښې نه یوازې داچې د اداري په فساد ګراف همېشه په صفر کښې وساتی بلکې کوښښ کوي چې ټول هغه احتمالات چې د اداري فساد د رامنځ ته کېدو کښې مرسته کوي له منځه یوسي، او هیڅ چا ته به اجازه ورنکړي چې د اداري فساد لپاره زمینه برابره کړي، او که چیری په کمه اندازه هم دکوم اداري فساد پېښه رامنځ ته کیږي د اداري رهبري به د هر ممکنه لاري څخه په استفاده د هغه مخه نیسي او دا ناوړه پدیده په هیڅ صورت د منلو وړ نه ده.

**لمړی اړتیا :د اداري فساد د مخنیوی په موخه رغنده هڅې ترسره کول**

ارزګان د لوړ زده کړو مؤسسه فعلاً د اداري فساد په وړاندې د مبارزې یوه فعاله کمېټه لري چې د همدې کمېټې په واسطه د مؤسسې اړوند ټول هغه موضوعات چې د اداري فساد په دائره کښې راځی راټول، تحلیل او بررسي کوي او یادونه باید وسي چې ددې کمېټې سربېره ارزګان د لوړو زده کړو په مؤسسه کښې د شکایاتو صندوق او د نظم او ډیسپلین یوه فعاله کمېټه هم وجود لري چې په منظم ډول د مؤسسې په ټولو اړخونو کښې فعالیت لري، چې د مؤسسې په کچه د بېلا بیلو تدارکاتی فعالیتونو لپاره ځانګړی کمېټې تعینیږي چې د هر ډول اداري فساد څخه مخنیوی وکړي.

**کړني:**

1) د مؤسسې په کچه د استخدام د پروسې په دقیق ډول نظارت کول
2) ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند ټولو استادانو، مامورینو او محصلانو ته د اداري فساد په اړه د عامه پوهاوی بېلابېل ورکشاپونه دائرول.
3) د موقع په وخت کښې د ټولو هغو فعالیتونو نظارت کول چې د اداري فساد د رامنځ ته کېدو احتمال په کښې موجود وي.
4) د مؤسسې اړوند ټول اداري او کادري پرسونل لپاره د الکترونیکي حاضري ایښودل.
5) کوښښ کول چې د چارو لوړه فیصدي الکترونیکي کړو څو د یوې خوا د بیوکراسي څخه مخنیوی وکړو او د بل لوري اداري فساد رامنځ ته نه سي.
6) د مؤسسې په کچه په تصمیم نیونه کښې استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو ته د نظر فرصت ورکول.
7) د مکافاتو او مجازاتو د اصل پلي کول.
8) د تدارکاتی فعالیتونو د څارني په موخه د یوې منظمي تدارکاتی کمېټې رامنځ ته کول.

9) د محصلانو د امتحان په پروسه کښې د هر تبعضي چلند څخه مخنیوی او د نتایجو د اعلان په وخت کښې ځان اطمناني کول چې پروسه په شفاف ډول تر سره سوې ده.
10) د نتایجو د Protection (ساتنې) لپاره داسې یوه منظم ډیټابیس رامنځ ته کول چې یوازې مسؤل کسان ورته لاس رسي ولري.
11) د پوهنتون په کچه په ټولو تعمیراتو کښې د امنیتي کیمرو نصب او فعالول.
12) د مراجعینو د ثبت او راجستر پروسه په لاره اچول.
13) د یو شفاف میکانزم په اساس هر کال د غوره استاد او مامور په نښه او تقدیرول

❖ **د جند ر اړوند:**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه په پوره ډول ژمنتیا لري څو د جندر په برخه کښې تعادل په پوره ډول پلي کړي، ځکه چې د یوې خوا ښځینه قشر د ټولني نیم نفوس تشکیلوي او حق لري څو د نارینه په څېرې خپل ځان د ګډ کار په هنداره کښې مشاهده او د بل لور د ا.ا.ج دولت د لوړو زده کړو محترم وزارت د جندر پالیسي هم دا ایجابوي څو په دې برخه کښې خپل مسؤلیت په پوره ډول تره سره کړو.
قابل ذکر ده چې په ارزګان ولایت کښې د جندر په ساحه کښې د هیواد د نورو ولایاتو په پرتله زیاتي ستونزې موجودي دي چې دا ستونزې ددې سبب سوي دي چې په دولتي او غیري دولتي اداراتو کښې د ښځو فعالیت کمرنګه دی، حتی ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې تر ۱۳۹۷ کال پوري هیڅ یوه ښځینه محصله نه لرل، ولي اوس ئې د لومړی ځل لپاره په ۱۳۹۸ هـ ش کال کښې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې ته یواځې ۱۳ تنه محصلینو ثبت نام کړی دی او د هغه له جملې څخه ۵ داني ئې اوس فعلآ په تحصیل بوختی دي چې دا لاسته راوړنه هم تر ډېره بریده د مؤسسې په شفاف او د ټولني سره په نښتي کاري چاپېریال پوري ربط لري، مطلب دا چې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه په خپل پراخ اعتماد چې په ټولنه کښې ئې تر لاسه کړی دی وکولای سو، چې په ذکر سوي رقم د ښځینه محصلینو جلب را خپل کړي، باید ذکر کړو چې د ذکری سوي مؤسسې اداره کوښښ کوي څو په دې برخه کښې شته خالیګاه د ټولو ممکنه لارو څخه په استفاده ډکه کړي او د جندر د پالیسي و تطبیق ته لاره هواره سي.

**کړني:**

1) دا چې ارزګان د لوړو زده کړو په مؤسسه کښې د ښځینه محصلانو کم شمېر دی ولي په راتلونکو کلونو کښې ددې ستونزي د حل څخه وروسته به د ښځینه محصلانو څخه متشکلي څو کمېټې جوړی او حمایه سي.
2) په عموم کښې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې چاپېریال د ښځینه کارمندانو او محصلانو لپاره مناسب جوړول.
3) د جندر مدیریت ایجادول.
4) د ښځو په وړاندي د تاو تریخوالي او جنسي زوروني په اړه په بېلا بیلو عرصو کښې د عامه پوهاوی ورکشاپونه دائرول.

5) کوښښ کول څو د لوړو زده کړو وزارت له لوري د ښځینه محصلانو لپاره د ټرانسپورټېشن سهولت برابر کړو.
6) د ښځینه محصلانو لپاره د کمپیوټری زده کړو زمینه برابرول.
7) د ښځینه محصلانو لپاره د انګلیسي ژبي د زده کړو زمینه برابرول.

**(2) د علمي-څېړنیزو پروګرامونو پراختیا**

❖ **ظرفیت لوړونه:**

**لمړی اړتیا: د موجوده لیسانس استادانو ظرفیت لوړول د ماسټری ترکچې**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه په خپل چوکاټ کښې ۴۱ کادري بستونه لري چي د هغه د جملې څخه شاوخوا ۷۰٪ یا خو ماسټران دي او یا ئې ماسټرۍ پروګرام په جریان کښي دي چي پر دې برخه پورته په تفصیلي ډول بحث سوی دی، پاته کسان چي شمېر ئې کم دی تر اوسه پوري د ماسټرۍ فرصت نه دی ورته مساعد سوی، چي ددې برخي لپاره ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې په راتلونکو پنځو کلونو کښي په لاندي ډول خپل پلان ترتیب کړی دی.

۱۲ جدول :ارزګان دلوړو زده کړو مؤسسې اړوند د استادانو لپاره د ماسټرۍ پروګرام ټایم لاین جدول

| کال | د ماسټر استادانو کچه لوړول په فیصدي | ماسټرۍ ته د معرفي کېدونکي استادانو شمېر د ۱۳۹۹-۱۴۰۳ هـ ل پوري |
|---|---|---|
| ۱۳۹۹ | ۲۰ | ۲ |
| ۱۴۰۰ | ۳۰ | ۲ |
| ۱۴۰۱ | ۴۰ | ۳ |
| ۱۴۰۲ | ۵۰ | ۳ |
| ۱۴۰۳ | ٦۰ | ۳ |

**دوهمه اړتیا : د موجوده ماستر استادانو ظرفیت لوړول د دوکتورا تر کچې**

دا چي په تحصیلي ډګر کښي مو د خپلي مؤسسې ظرفیت لوړ کړی وي او د لوړو زده کړو محترم وزارت په معیارونو مو خپل تحصیلي نهاد ته د تطابٌق زمینه برابره کړی وي نو لازمي ده، چي خپلو استادانو ته د ماسټرې تر تکمیل وروسته د دوکتورا زمینه برابره کړو او استادان و هڅوو چي د خپل ظرفیت لوړولو لپاره د دوکتورا تر کچې زده کړې تر لاسه کړي چي په دې برخه کښي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه خپل پلان په لاندي ډول ترتیبوي.

۱۳ جدول :ارزګان دلوړو زده کړو مؤسسې اړوند د استادانو لپاره د دوکتورا پروګرام ټایم لاین جدول

| کال | د دوکتور استادانو کچه لوړول په فیصدي | دوکتورا ته د معرفي کېدونکو استادانو شمېر د ۱۳۹۹-۱۴۰۳ هـ ل پوري |
|---|---|---|
| ۱۳۹۹ | ۳ | ۱ |
| ۱۴۰۰ | ۳ | ۱ |
| ۱۴۰۱ | ۴ | ۲ |
| ۱۴۰۲ | ۴ | ۲ |
| ۱۴۰۳ | ۵ | ۲ |

**دریمه اړتیا : د کادري او اداري کارکوونکو لپاره لنډمهاله روزنیز پروګرامونه دائرول**

دا یو واضح حقیقت دی چې تحصیلي او اداري پروګرامونه ورځ تر بلې مخ په وړاندې درومي، چې همدې ټکي ټول تحصیلي او غیري تحصیلي نهادونه مکلف کړي دي چې د نوي عصر او پرمختګ سره موازي مخ په وړاندي تګ وکړي، چې په همدې خاطر ارزګان د لوړو زده کړومؤسسه هم غواړی څو خپل دواړی برخي(کادري او اداري) د اوسني تدریسي او اداري پرمختګونو په پوهه سمبال کړي او د هغوی لپاره لنډ مهاله روزنیز پروګرامونه په نظر کښي ونیسي چې په ذکر سوې برخه کښي په لاندي ډول خپلي کړني پلان کوي.

**کړني:**

1) ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند د کادري پرسونل لپاره د تدریسي مېتودونو لنډ مهاله ورکشاپونه برابرول.
2) د استادانو لپاره د څېړني په برخه کښي بېلابیل ورکشاپونه دائرول.
3) د استادانو لپاره د OBE-SCL ورکشاپونو زمینه برابرول.
4) د استادانو او اداري کارمندانو لپاره د تضمین کیفیت اړوند بېلابیل ورکشاپونه دائرول.
5) د اداري کارمندانو لپاره د اداري او رهبري تر عنوان لاندي ځیني روزنیز پروګرامونه دائرول.
6) د استادانو او اداري کارمندانو لپاره د پلان او راپور جوړولو ورکشاپونه برابرول.
7) د لابراتوارد برخي کارکوونکي لپاره روزنیزپروګرامونه دائرول

**څلورمه اړتیا: دملي او بین لمللي پوهنتونونو سره کلتوري او علمي د ګډو همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیکول**

د اړیکو پیاوړی کول او د نوو اړیکو ټینګول په خاصه توګه د تحصیلي نهادونو او سکتوری برخو سره ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې په لومړیتوبونو کښي قرار لري او په دې برخه کښي لا د وړاندي تر یوه بریده پرمختګ سوی دی ولي د مؤسسې د فعالیتونو دائرې ته په کتو سره ضرورت حس کیږي چې په شته اړیکو بسنه ونه کړو بلکې نورې اړیکې

ټینګی او دا لړۍ وغځول سي، چې همدې ضرورت ته په کتو سره ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه خپل د اړیکو راتلونکی چوکاټ په لاندي ډول تعریفوي.

**کړني:**

1) دا چي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه لا د وړاندي د بهرنیو اړیکو او تفاهم لیکونو د تطبیق یوه کمېټه لري، نو د همدې کمېټې پیاوړی کول څو د شته تفاهم لیکو او اړیکو څخه اعظمي استفاده وسي.
2) د شهید استاد رباني د ښووني او روزني پوهنتون سره د ګډو همکاریو د یو تفاهم لاسلیکول.
3) د کابل پوهنتون سره د ګډو همکاریو د یو تفاهم لاسلیکول.
4) د هلمند د لوړو زده کړو مؤسسې سره د ګډو همکاریو د یو تفاهم لاسلیکول.
5) د اوکرائین هیواد د یو کرهنیز پوهنتون Sumy National Agrarian University سره د ګډو همکاریو د یو تفاهم لاسلیکول.
6) د هند هیواد د PUSA پوهنتون یا IARI سره د ګډو همکاریو د یوه تفاهم لاسلیکول.

**پنځمه اړتیا :د مسلکي زده کړو د انکشاف لپاره د (PDC)مرکز ایجادول**

د مسلکي زده کړو مرکز ایجاد په تحصیلي نهادونو کښې یو له خورا پر اهمیته موضوعاتو څخه شمېرل کیږي ځکه چي ټول پوهنتونونه نسي کولای چي معلومات او د هغوی د ثبت لپاره په مکمل ډول پر خپل ځان بسیا سي، بناً ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه په پام کښي لري څو په راتلونکو پنځو کلونو کښي د مسلکي زده کړو یو مرکز ایجاد او د هغه لپاره په کافي اندازه ودانۍ ورغوي.

**کړني:**

1) د مسلکي پرمختیايي مرکز منظور او تأسیس.
2) د مرکز لپاره د اړینو لوازمو برابرول.
3) په ذکر سوي مرکز کښي د OBE_SCL لپاره د یو استاد روزل.
4) د ټولو برخو د ټرینینګ لپاره د یوه منظم او پلي کېدو وړ پلان ترتیبول.
5) د ذکر سوي مرکز د پرسونل لپاره د مادي امتیازاتو سرچینه موندل.

**شپږمه اړتیا: د کیفیت د لوړاوي مرکز Quality Enhancement Unit (QEU) ایجادول**

دا چي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې لا د وړاندي د تضمین کیفیت پروسه پیل کړې او هڅه کوي چي پرټولو برخو ئې عملي او په رسمي ډول په یاده پروسه کښي شمولیت ولري، چي تر یوه بریده ئې په دې برخه کښي کار کړی دی او فعلآ د ذکر سوي پروسې ټول فعالیتونه د کادري پرسونل څخه د یوې متشکلي کمېټې په واسطه، چي تر یوه حده کافي تجربه هم لري پر مخ بېول کیږي، او لازمي بولو چي ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې لپاره یاده پروسه په یوه رسمي بڼه واړوي.

**کړني:**

1) د مسلکي اداري پرسونل برابرول.
2) د ذکر سوي مرکز لپاره د ضروری موادو برابرول.
3) د یاد مرکز لپاره لایحه وظایف برابرول.
4) د نوموړي مرکز لپاره د کلني تدابیری پلان تنظیمول.
5) د تضمین کیفیت د ټولو پروسو او ارزونو وصل د همدې مرکز سره.
6) د یاد مرکز لپاره د داسي یو پنځه کلن پلان ترتیبول او پلي کول، چي په اساس ئې د لوړو زده کړو وزارت له لوري په رسمي ډول ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه په ذکر سوې برنامه کښي شامله سي.

**اوومه اړتیا: د څېړنیز مرکز (Research Center) ایجادول**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د خپل مسؤلیت په اساس اړینه بولي څو په ذکر سوي تحصیلي نهاد کښي یو مجهز څېړنیز مرکز د لوړو زده کړو محترم وزارت اړوند د تآلیف، تحقیق او ترجمې ریاست له لوري منظور او پرانیزی، چي یاد مرکز په اوسني پیکه څېړنیز بهیر کښي یوه اندازه نوي رنګونه را ښکاره کړي.

**کړني:**

1) د څېړنیز مرکز Research Centre منظورول او تأسیسول
2) د تحقیقاتي مرکز لپاره د لازمو توکو برابرول
3) د مسلکي او اداري تشکیل منظورول.
4) د یاد مرکز لپاره د ۳ کلني ستراتیژي ترتیبول
5) د ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند استادانو هڅول څو هر کال یوه یوه څېړنه تر سره کړي
6) په داخل او د مؤسسې څخه د باندي د څېړونیزو ټرینینګونو دائرول.
7) د مؤسسې اړوند د ټولو محصلان لپاره د یوه نسبی تحقیقاتی فعالیتونو لیست کول.
8) د سکتوري برخو سره په مسلک پوري اړند ځیني څېړنیزی پروژې په لاره اچول.
9) د هیواد په داخل او بهر کښي د څېړنیز مرکز له لوري د تفاهم لیکونو لاسلیکول.
10) ټول استادان هڅول څو هر کال په خپل مسلک پوري اړوند یو علمي کنفرانس ارائیه کړي.

**اتمه اړتیا :د علمي مجلي او نشراتو مدیریت ایجادول**

د فعالیتونو محدود ساتل په یوه کتاب کښي په دې معنی دی چي هیڅ فعالیت وجود نلري مطلب دا چي ټول فعالیتونه باید د یوه خاص چینل له لاري د علم خوښوونکو او ټولني تر لاسو ورسول سي، چي په همدې اساس ارزګان د لوړ زده کړو مؤسسې رهبري لازمي ګڼي څو د مؤسسې په چوکاټ کښي د نشراتو یو مدیریت ایجاد او د علمي مجلې د نشر لپاره امکانات په لاس راوړی، چي په همدې خاطر په راتلونکو ۵ کلنو کښي خپل ددې برخي فعالیتونه په لاندي ډول را خلاصه کوي.

**کړنې:**

1) لوړو زده کړو محترم وزارت ته د علمي مجلې او نشراتو د مدیریت وړاندیز کول.
2) د علمي مجلې او نشراتو د مدیریت لپاره د تشکیل تر لاسه کول.
3) د استادانو سره کار کول څو په هر کال کښې یوه علمي مقاله د یوې علمي مجلې له لارې نشر ته وسپاری.
4) د یوې علمي مجلې د منظوری لپاره لومړنۍ کارونه تر سره کول.
5) د استادانو او محصلانود ابتدائې لیکونو او نوښتونو لپاره د یوې ازادي مجلې چاپول.

**نهمه اړتیا: د محصلانو لپاره د بېلابیلو زده کړیزو او ورزشي پروګرامونو په لاره اچول.**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اداره دا د ځان مکلفیت ګڼي، چې د مسلکي روزنې سره سره باید د پوهنتون اړوند محصلینو ته اجتماعی فعالیتونو او په نورو برخو کښې د وړتیا لوړولو ته پوره پاملرنه وکړي، نو په همدې خاطر لاندې ځینې پروګرامونه په نظر کښې نیول سوي دي.

**کړنې:**

1) د کریډیټ سیستم او لوړو زده کړو د قوانینو سره د محصلانو د بلدیت پروګرامونه په لاره اچول.
2) د محصلانو لپاره د تفریحی زده کړو د ځینو پروګرامونو په لاره اچول
3) اوسنې ورزشي کلب ته پراختیا ورکول او تجهیزول، څو محصلین وکولای سي ورزشي فعالیتونه په کښې تر سره کړي.
4) ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند محصلانو لپاره د انټرشیپ پروګرام په لاره اچول.

**لسمه اړتیا :د لومړني صحي خدماتو په موخه د یو صحی مرکز ایجادول**

دا چې په پوهنتون کښې د استادانو، اداري کارمندانو او محصلینو شمېر ورځ تر بلې زیاتیږي، نو لازمي بلل کیږي چې د دومره زیات نفوس لپاره د لومړنیو صحی خدماتو یو مرکز د صحت عامې ریاست په همکاري ایجاد او خدماتو وړاندې کولو په موخه په فعالیت پیل وکړي.

**کړنې:**

1) د صحت عامې ریاست سره د صحي مرکز په ایجاد د یوه توافق ترتیبول.
2) د صحی مرکز ایجادول.
3) د ټولو لازمي توکو برابرول.

**یولسمه اړتیا :د خصوصی سکتور سره په ګډه د کیټېریا ایجادول**

دا چې په پوهنتون کښې د استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو شمېر ورځ تر بلې زیاتیږي، نو لازمي بلل کیږي چې د دومره زیات نفوس لپاره د خصوصی سکتور سره په ګډه همکاري یوه کیټېریا ایجاد او فعاله سي، چې دا کړنه ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې په راتلونکو پنځو کلنو کښې ځای پرځای سوې ده.

**کړنې:**

1) د کپیټریا لپاره د ځای برابرول.
2) د خصوصي سکتور سره په ګډه د کپیټریا ایجادول
3) د کپیټریا لپاره د لازمي توکو برابرول

**دولسمه اړتیا: د نوښتونو د تشویق او هڅونې په موخه پوهنتون په کچه د یوه مرکز ایجادول**

دا چې په ارزګان پوهنتون کښې د بېلابیلو څانګو د استادانو او محصلینو د خپل ځان ورتیاوې ښودلې دي او دا لړۍ دوام لري نو په همدې خاطر ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اداره پلان لري چې د نوښتونو د تشویق او هڅونې په موخه د پوهنتون په کچه یو مرکز ایجاد او تجهیز کړي.

**کړنې:**

1) د نوښتونو د تشویق او هڅونې په مؤخه پوهنتون په کچه د یوه مرکز ایجادول
2) د ټول نوښتونو د ثبت لړۍ په لاره اچول.
3) د نوو نوښتونو لپاره د استادانو او محصلانو هڅول

**دیارلسمه اړتیا: د کار موندنې د یوه مرکز ایجادول:**

ارزګان د لوړ زده کړو مؤسسه په خپل چوکاټ کښې ښلابیل پوهنځۍ او څانګې لري چې دا ګراف په صعودي ډول پورته ځي بناً د دې ټولو برخو څخه د فارغینو لپاره لازمي ګڼل کیږي چې د کار موندنې یو مرکز جوړ او په ذکر سوې برخه کښې د فارغ التحصلانو لپاره سهولت رامنځ ته سي.

**کړنې:**

1) د کارموندنې د یو مرکز ایجادول
2) د ټولو فارغینو د ثبت ډاټا بیس جوړول.
3) د ثبت لړۍ په لاره اچول.
4) د دولتي او غیري دولتي اداراتو سره په دې اړه اړیکې ټینګول.

❖ **د کیفیت د لوړاوي اعتبار ترلاسه کول:**

د تضمین کیفیت د پروسې پلې کېدل او په دې برخه کښې هڅې کول ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د اولیتونو څخه شمېرل کیږي، چې په همدې اساس د ذکر سوي اداري د وړاندې لا د دې پروسې هڅه کړې ده : څو په رسمي ډول ذکر سوي پروسې ته مشتمله سي، چې د ۱۳۹۷ کال د شروع څخه بیا تر او اوسه پورې د تضمین کیفیت په برخه کښې زیاتي لاس ته راوړنې لري.

**لمړی اړتیا : د تضمین کیفیت لومړني پړاو ته د داخلېدو امادګي نیول:**

دا چې پورته ذکر سوه چې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه لا د وړاند د تضمین کیفیت پروسې په ساحه کښې یو لړ کارونه تر سره کړي دي، چې د مؤسسې په سطحه د یوې فعال کمېټې او د تضمین کیفیت د پروسې د انسجام

لپاره د يوه کادري استاد شتون په ياده برخه کښې مؤسسې ته ددې قدرت ورکړی دی چې يوه لړ کارونه په ذکر سوې ساحه کښې تر سره کړي.

**کړنې:**

1) د تضمين کيفيت د لومړی پړاو لپاره د بېلابېلو پلانونو چمتو کول.
2) د تضمين کيفيت د لومړی پړاو د چيک ليست مطابق د ټولو پوهنځيو او څانګو سره کار کول.
3) د کيفيت د لوړاوي مرکز له لاري د ټول برخو کنټل او د لومړی پړاو لپاره اماده کول.
4) د لوړو زده کړو محترم وزارت اړوند د تضمين کيفيت او اعتبار ورکوني رياست ته د مؤسسې د کلني فعاليتونو راپور پر خپل وخت لېږل.
5) د مؤسسې اړوند ټول کادري او اداري پرسونل ته د تضمين کيفيت اړوند بېلا بيل ورکشاپونه په لاره اچول.

**دوهمه اړتيا :د پروګرام او کريکولم بيا کتنه او پرمختيا**

دا چې په تحصيلي برخو کښې بدلون خورا په چټکتيا سره روان دی نو په همدې خاطر ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه غواړی چې د همدې بدلون هم کاروانه و اوسي، څو د نوي عصر سره سم ټول فعاليتونه د وخت مطابق عيار کړي، چې په همدې خاطر غواړو چې د زون اوهيواد ضرورتونو ته په کتو سره په خپل پروګرامونو او کريکولم کښې بدلون راولو.

**کړنې:**

1) د نصاب د شته کمېټې پياوړی کول.
2) د هرې څانګې پر درسي موادو او مفرداتو د سره غور کول.
3) کوښښ کول، څو په راتلونکې ۵ کلنو کښې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې تحصيلي پروګرام د هيواد د پرمختللو پوهنتونونو په شان تنظيم او پلی کړو.
4) دا چې د وخت او ضرورتونو په اساس يو مناسب تحصيلي نصاب ولرو نو لازمي بلل کيږي، څو د خپل تحصيلي نصاب د تغير او تنظيم لپاره د سکتوري، او مسلکي کسانو سلا مشوري د ځان سره ولرو، چې ياد ټکي هم د ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې په راتلونکو ۵ کلن پلان کښې شامل دي.

❖ **علمي څېړونو او نوښتونوته وده اوعموميت ورکول:**

په اصل کښې تحصيلي نهادونه دا دنده لري څو په خپل مربوطه برخو کښې د ساينسي او اجتماعی علومو د غني کولو لپاره علمي څېړني تر سره کړي، ځکه چې همدا نهادونه دي چې هم په بشری ځواک او مسلکي لحاظ مجهز او وړتيا لري څو په دې برخه کښې د خپلو امکاناتو په مطالعه کړني تر سره کړي، چې په همدې خاطر ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه هم کوښښ کوي چې څېړني او نوښتونه په لومړی قدم کښې د مؤسسې په سطحه عام او وروسته د يوه څېړنيز او نوښتګر بنسټ په ډول يو مطرح سازمان و اوسي.

**لومړی اړتیا :علمي څېړنې او ابتکارات تر سره کول.**

د ارزگان ولایت یو کرهنیز ولایت دی او ښه آب و هوا لري، چې دا ځانګړنه ئې د نورو ولایاتو په پرتله عالي ده، او د بل پلوه ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسه هم په خپل چوکاټ کښې د کرهڼې پوهنځی لري، چې دوه عمده څانګې ئې په فعال ډول په ذکر سوې برخه کښې ځوانان روزی بل لور د ښوونې او روزنې پوهنځی د ښېلا بیلو څانګو اړوند څېړنو او نوښتونو لپاره شته فرصتونو دا زمینه برابره کړې ده، چې په دې ولایت کښې د شته امکاناتو په کار اچولو سره کوښښ وسي څو د دڅېړنو په واسطه ددې ولایت د کرهڼې او ښوونې او روزنې په برخه کښې وړتیاوې را وسپړل سي او په اړه ئې معلومات په داسې ډول نشر سي چې د هیواد په داخل او بهر کښې د لاسرسي وړ وي.

**کړنې:**

1) ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسې په ۵۰۰ جریبه ځمکه کښې د دوه شنو خونو جوړول.
2) د کرهڼې پوهنځی لپاره د یو څېړنیز فارم او تحقیقاتي ساحې برابرول.
3) د کرهڼې او ښوونې او روزنې پوهنځیو اړوند استادانو هڅول، څو په هر کال کښې یو تحقیق تر سره او نتیجه ئې د علمي مجلو له لاري نشر کړي.
4) د کرهڼې او ښوونې او روزنې پوهنځیو اړوند محصلان هڅول، څو د اخیري کال د دوه سمسترونو د سمینارونو په عوض دوه ابتدائي څېړنې تر سره کړي.
5) د کرهڼې او ښوونې او روزنې پوهنځیو اړوند استادان هڅول، څو ارزگان ولایت کرهنیزې او تعلیمي ستونزې لومړی په ښه او بیا ئې په علمي ډول وڅیړي.
6) د مؤسسې په سطحه هر کال د ښېلابیلو څانګو لپاره د نوښتونو یو ننداړتون په لاره اچول.

**(3) لوړو زده کړو ته لاس رسی:**

ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسه د ولایت، زون او هیواد د ضرورتونو په ښه کول او په تحصیلي ډګر کښې د هغوی لپاره د مسلکي بشري ځواک روزل د خپلو مسؤلیتونو څخه بولې، چې د همدې مسؤلیت په درک کولو سره غواړي چې د مؤسسې په چوکاټ کښې د نورو پوهنځیو او څانګو په ایجاد سره موجودې خالیګاوې ډکې او د یوه بامسولیته اداري په ډول کردار ادا کړي.

**لمړی اړتیا :ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسې په چوکاټ کې د کمپیوټر ساینس پوهنځی ایجادول**

ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسې رهبري غواړي چې د ذکر سوې پوهنځی په ایجاد سره د هیواد شته ضرورتونه په ذکر سوې برخه کښې پوره او په دې برخه کښې د یو مسلکي ټولنې څخه برخمن سو.

**کړنې:**

1) د سیمې او هیواد د اړتیا سره سم د یو معیاري کریکولم جوړول.
2) د یاد پوهنځي په چوکاټ کې د معلوماتي سیستم او انجنیري شبکو څانګو فعالول



URZU STRATEGIC PLAN

3) دکادري او اداري کارکوونکو استخدامول.

4) د یاد پوهنځي لپاره د اړتیا وړ لوازم او اسانتیاوي برابرول.

5) د کریکولم اړوند تدریسي مواد چمتو کول.

**دوهمه اړتیا : د ښووني او روزني پوهنځی په چوکاټ کښي د شپې پوهنځی ایجادول**

دا چي په ارزګان ولایت کښي هیڅ یو خصوصي پوهنتون وجود نلري او یو زیات شمېری کسان په دولتي او غیري دولتي ادارو کښي په دندو بوخت دي، څو د خپلي کورنۍ لپاره یوه اندازه مالي حمایه جوړه کړي، چي عین مصروفیت ئې ددې سبب سوی دی چي یاد کسان د تحصیل د لاسته راوړولو څخه بې برخي کړي، او د بل پلوه ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې اداره ځان مکلف ګڼي څو د امکاناتو او شرائطو په مطالعه او ګټي اخیستني سره د دولت لپاره عایداتي منابعوي وموندي، نو په همدې خاطر پلان په کښي نیسو څو په راتلونکي کښي د ښووني او روزني پوهنځي په چوکاټ کښي د شپې  پوهنځي ایجاد کړي.

**کړني:**

1) د هیواد د اړتیا سره سم د یو معیاري کریکولم جوړول.

2) د یادي پوهنځی په چوکاټ کي د پښتو ادبیاتو او بیولوژی څانګو فعالول

3) د یاد پوهنځي لپاره د مالي چارو یو چوکاټ رامنځ ته کول.

4) د یادي پوهنځي لپاره د اړتیا وړ لوازم او اسانتیاوي برابرول.

5) د کریکولم اړوند تدریسي مواد چمتو کول.

**دریمه اړتیا :ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې په چوکاټ کي د اقتصاد پوهنځی ایجادول**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې رهبري غواړي چي د ذکر سوي پوهنځی په ایجاد سره د هیواد شته ضرورتونه په ذکر سوې برخه کښي پوره او په دې  برخه کښ د یوه مسلکي ټولني څخه برخمن سو، چي ددې پوهنځي په ایجاد سره به نه یوازي دا چي د ولایت او زون په سطحه  اقتصادي برخي مسلکي سي بلکي د پوهنتونونو دې ځانګړني ته په کتو سره چي هیواد شموله دي د هیواد لپاره هم د اقتصادي مسلکي ځواک د روزلو یو مرکز و اوسي.

**کړني:**

1) د سیمي او هیواد د اړتیا سره سم د یو معیاري کریکولم جوړول.

2) د یاد پوهنځي په چوکاټ کي د ملي اقتصاد څانګه او د مدیریت او تشبثاتو اداري څانګو فعالول

3) دکادري او اداري کارکوونکو استخدامول.

4) د یاد پوهنځي لپاره د اړتیا وړ لوازم او اسانتیاوي برابرول.

5) د کریکولم اړوند تدریسي مواد چمتو کول.

**څلورمه اړتيا :ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې په چوکاټ کښي د عامه اداري پوهنځی ايجادول**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې رهبري په پام کښي لري چي د نورو پوهنځيو تر څنګ د عامه اداري پوهنځی هم په راتلونکو پنځو کلونو کښي د لوړو زده کړو محترم وزارت له لوري منظور او تأسيس کړي، چي د منظوری سره سم به ئې د کادري او اداري برخي پرسونل هم استخدام او د نورو پوهنځيو په شان به په ذکر سوي برخه کښي چي د اوسنۍ ټولني يو عمده ضرورت دی مسلکي کسان وروزی او ټولني ته به ئې د خدمت په موخه وړاندي کړي.

**کړني:**

1) د سيمي او هيواد د اړتيا سره سم د يو معياري کريکولم جوړول.
2) د ياد پوهنځي په چوکاټ کي د عامه اداري او عامه پاليسي څانګو فعالول
3) دکادري او اداري کارکوونکو استخدامول.
4) د ياد پوهنځي لپاره د اړتيا وړ لوازم او اسانتياوي برابرول.
5) د کريکولم اړوند تدريسي مواد چمتو کول.

**پنځمه اړتيا :د کرهنې پوهنځي په چوکاټ کښي د نباتاتو ژغورني څانګي ايجادول**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه ژمنه ده چي د ټولني د غوښتنو او اقتصادي پياوړتيا په موخه خپل ټول فعاليتونه په داسي ډول تنظيم کړي چي هر خدمت ئې د ټولني د يو درد درمل سي چي په همدې خاطر ئې د خپل مسلکي کسانو په واسطه دا خبره درک کړې ده، چي زيات شمېر بزګران د کرهنيزو محصولاتو په ساحه کښي د امراضو او افاتو څخه اقتصادي زيان ويني او په دې برخه کښي په څو څو ځلي د ولايت د اداري جلسې او کرهنې، اوبو لګولو او مالداری محترم رياست غوښتنه هم کړې ده نو په همدې خاطر ارزګان د ولوړو زده کړو مؤسسه لازمي بولي چي د نباتاتو ژغورني څانګه د کرهنې پوهنځي په چوکاټ کښي لومړی منظور او وروسته تأسيس کړي.

**کړني:**

1) د يادي څانګي لپاره د يو معياري کريکولم جوړول.
2) د اړتيا په صورت کي د کادري کارکوونکو استخدامول.
3) د يادو څانګو لپاره د اړتيا وړ لوازم او اسانتياوي برابرول.
4) د کريکولم اړوند تدريسي مواد چمتو کول.

**شپږمه اړتيا :د کرهنې پوهنځي په چوکاټ کښي د مالداری څانګي ايجادول**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه د مالدارۍ په برخه کښي د ولايت فرصتونو ته په کتو سره غواړي د کرهنې پوهنځی په دائره کښي د مالدارۍ څانګه فعاله کړي، چي لومړی به د لوړو زده کړو محترم وزارت څخه ددې څانګي منظوری واخستل سي او وروسته به فعال سي.

**کړني:**

1) د يادي څانګي لپاره د يو معياري کريکولم جوړول.

2) د اړتیا په صورت کې د کادري کارکوونکو استخدامول.
3) د یادو ځانګو لپاره د اړتیا وړ لوازم او اسانتیاوي برابرول.
4) د کریکولم اړوند تدریسي مواد چمتو کول.

**اوومه اړتیا :د ښووني او روزني پوهنځې په چوکاټ کښې د اسلامیاتو د ځانګې ایجادول**

د ښووني او روزني پوهنځی په چوکاټ کښې د اسلامیاتو د ځانګې ایجاد د هیواد او په خاص ډول د ارزګان ولایت یو له اساسي ضرورتونو څخه دي چې عین ضرورت ته په کتو ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه غواړې دا خلا مشبوع کړې چې لومړی به د لوړو زده کړو محترم وزارت څخه د یادي ځانګې منظوری واخلي او عملآ به ئې پرانیزی.

**کړني:**

1) د یادي ځانګې لپاره د یو معیاري کریکولم جوړول.
2) د اړتیا په صورت کې د کادري کارکوونکو استخدامول.
3) د یادو ځانګو لپاره د اړتیا وړ لوازم او اسانتیاوي برابرول.
4) د کریکولم اړوند تدریسي مواد چمتو کول.

**اته اړتیا :د ښووني او روزني پوهنځې په چوکاټ کښې د تاریخ ځانګې ایجادول**

د ښووني او روزني پوهنځی په چوکاټ کښې د تاریخ د ځانګې ایجاد د هیواد او په خاص ډول د ارزګان ولایت یو له اساسي ضرورتونو څخه دی ځکه چې په تاریخی لحاظ پوهه د ټولني ضرورت دی، چې ګران هیواد د تاریخی پلوه د پوره او ښه منابعو څخه برخمن دی.

**کړني:**

1) د یادي ځانګې لپاره د یو معیاري کریکولم جوړول.
2) د اړتیا په صورت کې د کادري کارکوونکو استخدامول.
3) د یادو ځانګو لپاره د اړتیا وړ لوازم او اسانتیاوي برابرول.
4) د کریکولم اړوند تدریسي مواد چمتو کول.

**نهمه اړتیا :د ښووني او روزني پوهنځې په چوکاټ کښې د جغرافیې د ځانګې ایجادول**

د ښووني او روزني پوهنځی په چوکاټ کښې د جغرافیې د ځانګې ایجاد د هیواد او په خاص ډول د ارزګان ولایت یو له اساسي ضرورتونو څخه دی ځکه چې په عموم کښې هیواد د جغرافیایي موقیعت په اساس د ځانګړې اهمیت څخه برخمن دی او همدارنګه د جغرافیایي موقف په اساس هیواد د نړی د نورو هغه هیوادونو په قطار کښې راځی چې د ښه آب وهوا درلودونکی دی

**کړني:**

1) د یادي ځانګې لپاره د یو معیاري کریکولم جوړول.
2) د اړتیا په صورت کې د کادري کارکوونکو استخدامول.

3) د یادو څانګو لپاره د اړتیا وړ لوازم او اسانتیاوي برابرول.

4) د کریکولم اړوند تدریسي مواد چمتو کول.

**لسمه اړتیا :د معارف ریاست استادانو ته په ژمنیو رخصتیو کښي د داخل الخدمت برنامه په لاره اچول.**

د هیواد د لوړو زده کړو محترم وزارت او معارف جلیله وزارت تر منځ د سوی تفاهم په اساس ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسی اداره پلان لری چی په راتلونکو پنځو کلونو کښی د ارزګان ولایت د ولسوالیو ملمین چی د ۱۴ صنف څخه فارغ وی د لیسانس لپاره یی په ژمنی رخصتیو کښی یو پروګرام په لاره واچوی څو د ذکر سوی تفاهم په اساس د اړوند ریاست ټول استادانو ته د لیسانس سهولت رامنځ ته سی.

**کړني:**

1) د یادي برخی لپاره د یو معیاري کریکولم جوړول.

2) د اړتیا په صورت کي د کادري کارکوونکو موظفول.

3) د یادو څانګو لپاره د اړتیا وړ لوازم او اسانتیاوي برابرول.

4) د کریکولم اړوند تدریسي مواد چمتو کول.

**یولسمه اړتیا : دپوهنځیو او ټولو څانګو په کچه د موجوده کریکولم بیا کتنه**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه په پام کښي لري چي په راتلوونکو پنځو کلونوکښي د مؤسسي په کچه د ټولو څانګو کریکولمونه د بازار، ټولني او سیمي غوښتونو ته په کتو سره نوی او سمون پکښي راولي، دې سره به وتوانیږو چي د کارد مارکیټ د غوښتونو سره سم بشری ځواک ټولني ته وړاندي کړو.

**کړني:**

1) د موجوده کریکولم په اړه یو ټولپوښتنه په لاره اچول یعني فارغان، محصلین، استادان، په ټولنه کي ښکیلي خواوي او ګمارونکي نهادونه پوښتل او د دوی ټولو نظرونه او وړاندیزونه راغونډول.

2) ټولپوښتني ته په کتو سره د کریکولم مفردات او درسي مواد مقایسه او تحلیلول.

3) د کریکولم کمیټې د غړو لپاره د ملي او بین لمللي پوهنتونونو د کریکولمونو د لیدلو فرصتونه برابرول.

4) د لوړو زده کړو وزارت د پالیسي سره سم د کریکولمونو د هغو برخو عوض او نوی کول کوم چي دټولپوښتني او معیاری تعلیمي نصابونو له مخي اړتیا ورته لیدل کیږي.

**(4) د بنسټیزو تأسیساتو پراختیا:**

زېربنايي تأسیسات او ودانۍ ارزګان دلوړو زده کړو مؤسسې د لویو او مهمو اړتیاوو څخه شمېرل کیږي، چي باید پر وخت ئې ساختماني چاري بشپړي سي تر څو د استادانو، محصلینو او کارمندانو له پاره کامل درسي او کاري چاپېریال رامنځته کړو او مؤسسه خپل تدریسي، اکاډمیکي او اداري چاري په موثر او چټک ډول مخته یوسي، که څه هم دمؤسسې د بشپړي پراختیا او پر وخت پرمختګ له پاره اړینه ده، چي د ماسټر پلان له مخي ټولي ساختماني چاري

ژر تر ژره تر سره سي، خو د مالي او بودجوي امکاناتو محدودیت د دې کار په مخ کې خنډ گرځېدلی او د مؤسسې اداره اړه ده، چي د لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره خپلي رغنیزي چاري مخته بوزي لومړیتوبونو او امکاناتو په پام کې نیولو سره دمؤسسې د ودانیو او نورو تاسیساتو د جوړوني او بیا رغوني چاري په لاندي ډول دي.

**لومړی اړتیا: ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسې لپار د ماسټرپلان جوړول**

دمؤسسې د تأسیساتو او نور سهولتونو د جوړېدو له پاره ماسټر پلان په نظر کې نیول سوی دئ. په پام کې ده، چي ټولي ودانۍ او نور سهولتونه د ماسټر پلان سره سم جوړ او د کار پرمختګ ئې تر څارني لاندي ونیول سي.

**کړني:**

1) د مؤسسې دنوي ساحې له پاره د ماسټر پلان جوړول.
2) د ماسټر پلان د تحقق له پاره شرائط برابرول او امکانات موندل.
3) د تأسیساتو د جوړېدو له پاره د ماسټر پلان مطابق وخت ټاکل او له هغه څارنه کول.
4) د کمپس ټولي طرحي او نقشې د ماسټر پلان مطابق جوړول.
5) په ماسټر پلان کي د سکایپ تدریسي خونو، د استادانو د ناستې د ځانګړي اطاقونو، د اوسېدني برخي، شنې ساحې، ورزشي ساحې، تجارتي ساحې او نور ضرورتونه په نظر کې نیول.

**دوهمه اړتیا: ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسې داحاطوي د ېوال او د عمومي دروازې د تاسیساتو جوړول**

روزګان د لوړو زده کړو مؤسسې احاطوي دېوال جوړول، چي د مؤسسې ټوله ساحه راچاپېره کړي او همدارنګه د عمومي دروازې جوړول، د مهمو چارو څخه شمېرل کېږي.

**کړني:**

1) د احاطوي د ېوال ډیزاینول
2) د احاطوي د ېوال برآورد کول
3) د احاطوي د ېوال ساختماني چاري پر خپل ټاکلي وخت شروع او بشپړول
4) د انګړ د عمومي دروازې د تأسیساتو چاري شروع او بشپړول.

**دریمه اړتیا: د مؤسسې په ساحه کښې زرغون چاپیریال او سړکونه:**

ارزگان د لوړو زده کړو موسسې په ساحه کښې د ماسټرپلان اړوند د سړکونو، پیاده رونو، لیولکاری، لښتیو او زرغون چاپیریال چاري تکمیلول.

**کړني:**

1) د ټولي ساحې لیولکاري (Site leveling)
2) د ماسټر پلان اړوند د سړکونو لیاوټ (Layout)
3) د لښتیو رغول (side ditches)

4) د پياده رونو رغول ( Footpath )

5) د ونو کښينول ( Trees Plantation )

6) د چمنونو کښينول ( Lawn cultivation and Preparation )

7) د سړکونو رغول.

8) د ناستي لپاره د کانکريټي چوکيو نسبول.

**څلورمه اړتيا: د مؤسسې لپاره د څښاک د صحي او اوبو لګولو د يوې شبکې جوړول:**

پدې پروژه کې تر ډېره کوښښ کيږي چي د ټول کمپس په کچه يو واحده د اوبو منبع ورغول سي تر څو د دواړو هدفونو لکه په ټولو اداري او تدريسي ودانيو کي د څښاک د اوبو استفاده او همدارنګه د مؤسسې د زرغون چا پيريال د خړوبولو لپاره هم استفاده ورڅخه وسي.

**کړني:**

1) د يوې لوړې ارتفاع لرونکي ذخيري رغول.

2) د څښاک د اوبو لپاره داوبو رسوني ميکانيزم.

3) د زرغون چاپېريال د خړوبولو لپاره ميکانيزم.

4) د يوې غټې برمې کيندل او تجهيزول.

5) پايپ رسوني سيستم.

**پنځمه اړتيا: د پوهنتون په ساحه کښې د بريښنا د شبکې جوړول**

ارزګان دلوړو زده کړو مؤسسې د تاسيساتو له پاره د برقي انرژۍ برابرول په لومړيتوبونو کښې قرار لري، چي بايد پر داسي لارو چارو کار وسي چي مؤسسه د انرژۍ د توليد او ذخيرې له اړخونو پر ځان بسيا وي.

**کړني:**

1) د بريښنا د منبع برابرول (د اړتيا وړ جنراتور او سولري سيستم...)

2) د منبع څخه بيا تر ټولو ودانيو پورې د لين سيستم برابرول.

3) د بريښنا د کنټرول لپاره د ميکانيزم چمتو کول.

4) د بريښنا د منبع لپاره د روغنياتو چمتو کول.

5) د بريښنا ټول ميکانيزم استفادې ته چمتو کول.

**شپږمه اړتيا: د محصلينو له پاره د ليليې تعمير جوړول**

ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه په پلان کښې لري چي د مؤسسې اړوند ټولو محصلانو لپاره چي د نورو ولاياتو او يا ولسواليو څخه په ذکر سوې مؤسسه کښې په تحصيل بوخت دي د اوسېدو لپاره د ليليې يو تعمير جوړ کړي.

**کړني:**

1) د شپږ پوړيز تعمير ډيزاين چاري تکميلول.

2) .رغنیزي چاري تکمیلول.
3) ټول د اړتیا وړتوکو برابرول.
4) یاده ودانۍ د استفادې لپاره چمتو کول.

**اوومه اړتیا : د ښووني او روزني پوهنځي لپاره معیاري تدریسي ودانۍ رغول:**

د ښووني او روزني پوهنځی لپاره د ټولو اړتیا وړ لوازمو او تجهیزاتو سره د یو معیاري تدریسي ودانۍ رغول.

**کړني:**

1) د یوې معیاري تدریسي ودانۍ ډیزاین چاري تکمیلول.
2) ټولي رغنیزي چاري تکمیلول.
3) د الماریو،میزنو او چوکیو برابرول.
4) .نومورې ودانۍ د استفادې لپاره چمتو کول.

**اتمه اړتیا : د کرهڼې پوهنځی لپاره معیاري تدریسي ودانۍ رغول:**

د کرهڼې پوهنځی لپاره د ټولو اړتیا وړ لوازمو او تجهیزاتو سره د یوې معیاري تدریسي ودانۍ رغول.

**کړني:**

1) د یو معیاري تدریسي ودانۍ ډیزاین چاري تکمیلول.
2) ټولي رغنیزي چاري تکمیلول.
3) د الماریو،میزنو او چوکیو برابرول.
4) نومورې ودانۍ د استفادې لپاره چمتو کول.

**نهمه اړتیا : د کمپیوټر ساینس پوهنځی لپاره معیاري تدریسي ودانۍ رغول:**

د کمپیوټرساینس پوهنځی لپاره د ټولو اړتیا وړ لوازمو او تجهیزاتو سره د یوې معیاري تدریسي ودانۍ رغول.

**کړني:**

1) د یوې معیاري تدریسي ودانۍ ډیزاین چاري تکمیلول.
2) ټولي رغنیزي چاري تکمیلول.
